مورچل

داسلامي امارت ليکې دلاوحدت پرلور!

لسم کال دريمه، پر لپسې ۹۱ يمه کڼه جمادی الثانية ۱٤۳۷هق مارچ ۲۰۱٦م

د شهيد محصل شير احمد کريمان ياد

دشعر او ترنم دمورچل اتلانو !

استعفاءهای پيهم نشانهء بارز اضمحلال رژيم!

دسعودي او ايران سياسي ستونزې ولې مذهبي شخړه....

چارواکي ولې يو په بل پسې استعفاوې وراندې کوي...؟!



مورچل

لسم کال دریمه، پرلپسې ۹۱ یمه ګڼه جمادی الثانیة ۱۴۳۷هق مارچ ۲۰۱۶م

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	چاروا کې دلې یو پریل پسې استعفاوې وړاندې کوي.؟	۳
۳	استعفاهای پیهم نشانه، بارز اضمحلال رژیم !	۲
۴	د شهید محصل بشیر احمد ریان یاد	۸
۵	د سرمقالې الیکلو څلور مرحلې	۱۱
۶	د جهاد فقهي مسائل	۱۵
۷	د شعر او ترنم د مورچل اتلانو !	۱۹
۸	د مورچل دار الافتاء	۲۱
۹	د ځوان مورخ شهید (ریان) په ویر کې	۲۳
۱۰	د شهید نعمت آکا ژوند ته لنډه کتنه	۲۵
۱۱	د اسلامي دعوت پیژندنه او ارزښته	۳۰
۱۲	د سعودي او ایران سیاسي ستونزه ولې مذهبي شخړه...	۳۲
۱۳	د اربکیانو ملاتړ او تمویل څوک کوي !؟	۴۱
۱۴	صحابي که ملایکه غسلش دادند !	۴۳
۱۵	صحابه کرام رضي الله عنهم څوره بیلګې؟	۴۸
۱۶	جنګي جنایتونه (مارچ)	۵۱
۱۷	د دعوت، ارشاد، جلب و جذب کمیسیون	۵۳
۱۸	د مورچل ورځې	۵۴
۱۹	د ۲۰۱۲ز کال د مارچ میاشت جهادي خبرونه	۵۲

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافـــظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

داسلامي امارت جهادي ليکې دلا وحدت پرلور!

هاغه وخت چې داسلامي امارت دمؤسس او لارښود امیرالمؤمنین ملامحمد عمر (مجاهدرحمه الله) پر وفات له ویره ډکه فضاء رامینځته شوه او دنړیوالو حدسونو دطالبانو دلیکودوحدت پر ځای دتفرق اودرخ پیدا کیدو پر لور غمازې کوله، نودهیواد دعلماوواو جهادي مشرانوپه هڅواوهاند دمحترم امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور حفظه الله تعالی سره داسلامي امارت دنوې زعیم په توکه دبیعتونو تسلسل اودوفاداری لورې نړیوال انعکاس ناڅاپه له (١٤ شوال المکرم ١٤٣٦ھ مطابق ٣٠جولائی ٢٠١٥ز) نیټې څخه داسلام او خاورې ددښمنانو خولې له خاورو ډکې کړي، دنړیوال ښکیلاک پروراندې دجهادي مقاومت علمبرداران چې دیوه هیښونکې او تحیرله حالت سره مخامخ وو، په نمجنو سترکو یې دخوښیو اوښکې بهاندې شوي اوپر خولو یې دداسې چا پر قیادت دتبسم موسکاراغله، چې دفقید امیرالمؤمنین رح په وخت کې دهغه مرستیال او دچارو سرپرست وچې همهاله دکدر رهبري لخوا دنومورې تاکنه حقیقت کې دمحترم امیرالمؤمنین رح دارمانونو تحقق اودهغه دهیلو بشپړاوی و!

خو لکه دنورو سیاسي حکومتونو په څیر،د اسلامي امارت د نوې زعامت سره هم تر بیعت وروسته یو کم شمیرخلک په انزوا کې پاتې شول او خپل بیعتونه یې وځندول ، هر یو یې دخپل تجرد لپاره ځانګړې توجیهات وراندې کول ،چې دوختونو په تیریدواو دحقایقو په رابرسیره کیدو سره،لله الحمد دهغوئ یو شمیر چې رښتیا داسلامي امارت خواخوږې ،دجهاد مخلصین او له اسلامي امارته کوښه والی ورته نور نه کوم شرعي اصل ښکاریده او نه کومه ولسي تمنا ، نو له نوې زعامت سره یې دخپل بیعت اعلانونه وکړل او عملاً یې دنوی زعیم (ملااختر محمد منصور

حفظه الله) د جهادي مشرتابه لاندې خپله مبارزه پيل کړه ، چې لا هم ددې هيلې شته، چې پاتې نور به يې هم حالاتو ته په کتو، جهادي اوملي ارزښتونو ته په پام سره له انزواو تجردځخه رابهر او لکه دپخوا په شان به دخپلوجهادي ژمنوتکامل اصوليت وکښې .

دبيلګې په توګه دمرحوم (ملا محمد حسن رحماني) اوبيا په دي ورستيو کې د اسلامي امارت درهبري شوری غړي (ملاعبدالقيوم ذاکر) نومونه يادولای شو،چې په (۳۰/۳/۲۰۱٦)نيټه يې په رسمي توګه له نوې زعامت سره خپل بيعت اعلان او رسنيو کې دنوړې دبيعت ليک متن په بشپړ ډول خپور شو.

پدې وروستيو کې داسلامي امارت رهبري شوری په (۱٤۳۷ه ق) کال د جمادی الاخری په ۲٦ نيټه ديوې اعلاميې په صدور سره جوته کړه ،چې د اسلامي امارت دمؤسس مرحوم عاليقدر اميرالمومنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ورور (الحاج ملا عبدالمنان عمري) د اسلامي امارت د رهبري شوری د غړي او ددعوت او ارشادد کميسيون د رئيس په توګه او دمرحوم اميرالمومنين ملا محمد عمر مجاهد مشر زوی مولويمحمديعقوب (مجاهد) د رهبري شوری د غړي او په نظاميکميسيون کې د هيواد د ۱۵ ولايتونو د نظاميمسؤل په توګه وتاکل شو ،له شک پرته چې ، دې سره دهغو مغرضو عناصرو تبه وشليده ،چې په دي تمه ناست وو، چې خدای مکړه دمرحوم اميرالمؤ منين رح درنه کورنی به له جهادي خدمت نه ليري پاتې شي .

اسلامي امارت چې دتولو هيوادوالوګډ کور دی اودلته نه شاهي نظام شته او نه غربي ديموکراتيک اصول ،بلکې دزعامت ،اداري واحدونوکې دتاکنواو لوايحو يا قوانينو تقنين دشرعي اصولو له مخې صورت نيسي او دلويديځو هيوادونوغوندې د دندو او واکونو ويش درشوتونو اوکمپاينونو په پايلو کې نه رامينځته کيږي ،نو ځکه داسلامي امارت مجاهدين داسې چارې په مجموع کې يوه عادي موضوع بولي اوسياسي سيالی ورته نه کوي ،او دې وظايفو ته دجهاد او خدمت په نيت راوراندې کيږي، نه دکومې مادي ګټې او دنيوي جاه وجلال په آند!

په توليز ډول اسلامي امارت سره دسترو جهادي اشخاصو دتوافق او بيعت تداوم دجهادي صف په يووالي او لا څواکمنتيا کې پرمختګ او داسلامي امارت دنوې زعامت بری بولو او دعاکوو،چې الله تعالی دې اسلامي امارت لا پياوړی او مسلمانانو ته دوحدت او يووالي مظهر کړي !

آمين ثم آمين .

چارواکي ولې يو په بل پسې استعفاوې وړاندې کوي . . . !؟

موسی فرهاد

په دې وروستيو کې د کابل د ملي جلاوالي کډوډي اداري يو شمير لوړپوړو مامورانو ، يو په بل پسې له خپلو دندو د لاس پرسر کيدو لړی پيل کړي ده . د روان ميلادي کال له شروع څخه تراوسه پوري د ملي امنيت له رئيس نبيل څخه نيولي ، تر داخله وزير علومي ، د انتخاباتي کميټي مشر يوسف نورستاني ، د کانونو وزير داؤدشاه صبا او څه باندي يو درجن نورو تيټ رتبه او لوړرتبه چارواکو خپلي دندي پرې ايښې، او اتکل کيږي چې دا لړی به نوره هم وغځيږي ، په دې اړه د کابل د پارلماني جرګې غړو هم سخته انديښنه ښودلې ، چې که د حکومتي کارمندانو د استعفاؤو دا سلسله همداسي دوام وکړي ؛ ممکن حکومت به يې د چارواکو له نيستي سره مخ شي .

معمولاً په دنيا کې دولتي حکمرانان ، استعفاوې هغه مهال وړاندې کوي چې د ولس په وړاندې پخپلو دندو کې د ښې کارکردګۍ له پلوه پاتې راشي .

مګر د کابل د بلواکه اداري رسم و رواج بيا بل دول دی. دا څکه چې د دغې پرديپاله اداري کارمندان دندې په سفارشونو ، رشوتونو ، درغليو او بهرنيانو ته په وفاداريو کې د سبقت له لاري ترلاسه کوي ، نو طبعي ده چې د ښه خدمت او ښې کارکردګۍ خو سوال نه پيداکيږي چې دغسی غله چارواکي دي په کار کې د ناکامۍ له امله څان ملامت کړي او استعفا دي وړاندې کړي .

که داسی وای نو تر ټولو لومړی بايد يونيم کال وړاندې ټولو لوړپوړو چارواکو هغه مهال لا استعفاوې کړي وای چې امريکايي جانکيري په يوه وار ، په يوه ښار کې په يوه کوڅه کې دوه بې واکه بادشاهان وربانديې مقرر کړل ، دواړو ته يې تاجونه ورپر سر کړل ، يوه ته يې وويل چې د کلخاني له قصره دي

خپل فرمانونه صادروي او بل ته يې وويل چې له سپيدار مانۍ نه دي د خپلو اجراءآتو مکتوبونه اخوا ديخوا ليږي . له همدې ځايه وه چې پرون يې په يو بيساري مکتوب کې د کابل پرتولو دفتردارانو غږ وکړ چې له دې پس به په دفترونو کې د غنی اشرف ترځنګ د ده يعنی ډبل عبدالله تصويرونه هم را ځوړندوي .

دا راز که چيري د کابل د غلو چارواکو استعفاکاني د سنګينی او سپيڅلتيا پر بنياد وای ، نو په دې يوه نيمه لسيزه کې په هيواد کې د يرغلګرو او د هغوی د نورو جنايتکارو کوډاکيو مليشو له لاسه پر ملت باندي خورا بدي او ځوروونکي صحني راغلي ؛ خو هيڅ چارواکي هم د دندي پرينبودلو احتجاج ونکړ .

نو داسي مالوميږي چې د دوی د استعفاکانو لاملونه بل څه دي :

-- لومړی داچې زما په اند دا مسئله غيرمترقبه هم ځکه نه ده چې کله امريکايی يرغلګرو پريکړه کړي چې نور به له افغانستانه خپله پښې سپک کوي ؛ له همغه راهيسي يې په کوډاکيانو کې د خپل مستقبل په اړه انديښنې او سرګردانی پيدا شوي دي . له هيواد ځخه يې د تيښتي او په بل ځای کې د پناه اخيستلو په اړه فکرونه کوي .

دا ځکه چې دوی له يرغلګرو سره په ډېرو اوږدو اميدونو د وطن او ناموس په اشغال کې په خورا اخلاص مرسته کړي وه . مګر چونکه يرغلګر باداران يې د مجاهدينو د جهادي مقاومت په وراندي له شکست او شرمندګی سره مخ شول ؛ نو دوی يې هم په نيمايی لاره کې پرينبودل ، نه يوازې داچې زموږ د مسلمان ولس د عدالت رحم وکرم ته يې پرينبودل ؛ بلکې هغه ډالري مرستې چې دوی ته يې د کوډاکيتوب په بدل کې ورکولې ؛ هم وربانديې کمې کړي او ممکن په نژدې راتلونکي کې يې په تپه وربانديې بندي کړي .

تردي هم بد تره دا چې اوس يې د هغو تيرو ډالري مرستو چې دوی ته يې په پريمانه ډول په واک کې ورکولې ؛ حساب ، کتاب ورپسې را اخيستې دی . د لويديځ ځخه يوه نه بله ورځ يوه ادراه راپور نشروي چې دومره ميلياردونه ډالر افغان حکومت ته ورکول شوي ، مګر دوی بيځايه لګولي او نوري يې غلا کړي دي .

دا اوس اوس په افغانستان کې د امريکايي لګښتونو د ځار اداري يو راپور خپور کړی چې وايي له افغانستان سره له مرسته شوي هر ډالر ځخه ۲۹ سينټه ورک شوي دي.

جان سوپکو چې د يادي اداري مشر دی ؛ وايي چې امريکا په افغانستان کې شاوخوا ۱۱۳ ميلياردې ډالره لګولي دي، خو له هر ډالر ځخه ۲۹ سينټه غلا شوي دي.

سوپکو د دغي ستري غلا او فساد لامل افغان چارواکي بللي او هغوی يې ملامت کړي دي چې له معلومو غلو او مفسدينو سره قانوني چلند نه کوي.

سوپکو افغانستان ته پخپل وروستي سفر کې ويلي چې دوی د خپلو پلتونو لپاره له پوځي اډو د باندې زره نه دی کړی، ځکه چې حالات خورا ترينکلي دي.

د سوپکو په وينا يوازې د نشه يي توکو دمخنيوي لپاره اته ميلياردہ ځلور سوه ميليونه ډالر ولکول شول، مګر عملي پايله يې موږ دا کورو، چې د کوکنارو کرکيله د پخوا په پرتله نوره هم دېره شوې ده.

برتانوی ورځپانه انديپيندنټ د سوپکو له خولې ليکي چې دوی په افغانستان کې لکښت کړی خو له لکوونکو سره يې حساب نه دی شوی. بايد چې ورسره سم حساب کتاب وشي . او د دې لويی غلا او فساد لامل بيا هم افغان چارواکي دي .

نو چې له يوې خوا يې خارجي بادارنو د مجاهدينو او ملت په وړاندي يوازي پريښودل او پر دې سربيره د مالي فساد د حساب کتاب راپورونه هم ورپسې خپروي ؛ نو دې تکي کوډاکيان خورا وارخطا کړي دي.

-- دويم داچې د کابل چارواکي له دې امله هم سخت په ويره کې دي چې نور يې د مجاهدينو په وړاندي د مقاومت توان له لاسه ورکړي بريښي . د خارجي بادارنو په شتون کې يې تهاجمي روحيه درلوده چې پر مجاهدينو به يې هرځای د برید او حملو فکر کاوه ، د کيلم جمي توپکمار دوستم او جعلي کارمان جبار لاپی شپی چې رسوا شوي ، لا پسی وارخطا شول، له تهاجمي حالته ، دفاعي او له دفاعي نه اوس د فرار حالت ته رسيدلي دي. برعکس مجاهدينو چې له صفره جهاد پيل کړی وُ ؛ اوس د الله تعالی په نصرت او د مسلمان ولس په ملاتړ په ټول هيواد کې پر دښمن باندي حاوي او په منظم تهاجمي حالت کې قرار لري .

نو دا هم هغه څه دی چې د کابل د کوډاکی اداري چارواکي يې له وارخطائی سره مخ کړي او يو په بل پسي يې د استعفاګانو لړی پيل کړي ده .

پای

سعید بدخشانی

استعفاء های پیهم نشانهء بارز اضمحلال رژیم!

با آغاز سال دو هزار شانزده میلادی ساحهء قلمرو مجاهدین امارت اسلامی گسترش یافته وهمواره سلسله فتوحات ادامه دارد،ان شاء اللّه العزیز سال جاری سال نابودی اشغالگران ومحو نظام اداره پوشالی کابل واقامه یک نظام خالص اسلامی وشرعی خواهد بود.

بلا تردید با حلول فصل بهار قلوب ارگانها وعساکر مورال باخته رژیم دست نشانده ،مملوء از رعب وخوف شیرمردان غیور امارت اسلامی گردیده ،مراکز وولسوالی های زیادی را بدون کدام جنگ ترک وبه مراکز ولایات فرار می کنند،این خود نشانهء بارز فروپاشی نظام ظالم ومنحوس اداره دو سر میباشد،و دشمن دیگرتوان مقابله با مبارزین راه آزادی را از دست داده اند.

شایان یادآوری !علاوه براینکه نظامیان شکسته خورده اداره کابل میدان نبرد را ترک میکنند،وزراء ومسؤلان بلند رتبهء این اداره نیز از س○مت های شان کنار رفته ومستعفی میشوند.

آری! از دور نخست صاحب نظران وآگاهان امور از اداره‌ء بی اختیار ایتلافی توقع فعالیت سالم را نداشتند وپیشبینی های سقوط وانحلال آنرا میکردند.

بلی!از یک سو رئیس ناتوان ارگ ورئیس نام نهاد اجرائیه وعدهای که به ملت داده بودند یکی آنرا هم پوره وبجا آورده نتوانستند،هدف اصلی در اینجااست که رژیم دو سر تا به الحال تشکیلات خود را تکمیل نکرده اند،پس اموروومشکل مردم را چطور حل نمایند،ضرب المثل مشهور است که،خفته خفته را کی کند بیدار.

بطور فشرده متذکر باید شد،که یک مشت انسانهای بی کفایت وبی درایتی که به جعل وتزویر،وخاک انداختن به چشم ملت به مناصب دولتی تکیه زدند،اصلاً باور واعتناء به ارزش های اسلامی ،ملی ،افغانی وانسانی ندارند، پس چطور میتوانند درد مردم را مداوا کنند.

از یکطرف اداره سمبولیک به قحط الرجال مواجه است،بجز چند چهره، دیگر اکثراً مهره های از کار افتیده رژیم کمونیستی نجیب را یکجا نموده اند.

واز سوی دیگر برخی وزارتخانها بخاطر جنجالهای واقع بین شرکاء شرکت سهامی از سوی سرپرستان اداره میشود،بطور نمونه وزارت دفاع از ابتداء تا هنوز از طریق سرپرست بپیش میرود.

اکنون برعلاوه بی باوریها وتنشها داخلی،استعفاءهای پیهم در اداره اشرف غنی آغاز گردیده است واین سلسله بسرعت جریاندارد، که مبصرین اینرا علت اضمحلال ونابودی رژیم میدانند.

بطور نمونه،رئیس دارالانشاء کمیسیون انتخابات ضیاالحق امرخیل از وظیفه اش استعفاء داد.

جیلانی پوپل رئیس ارگان های محلی نیز از سمت اش مستعفی شد.

رحمت الله نبیل رئیس اداره استخباراتی وجاسوسی از سمت خویش کنار رفت.

نورالحق علومی وزیر امور داخله از وظیفه کنار رفته واز کشور فرار را به قرار ارجحیت داد.

یوسف نورستانی مجبوراً ریاست کمیسیون انتخابات را ترک گفت.

وزیر معادن وپطرولیم داود شاه سبا وظیفه خود را گزاشت.

فاطمهء گیلانی رئیسه سره میاشت نیز از موقف خویش مستعفی شد.

گفته میشود که بعضی وزراء دیگر هم اراده استعفاء دارند،اما چرا استعفاء؟شاید بعضی ها استعفاء اینها را بخاطر تقوا سیاسی ومنافعی ملی گمان کنند،لکن اصلاً چنین نیست،اگر این افراد به منافع کشور متعهد میبودند،چگونه وچرا؟در اداره ساخته شده از طرف جان کیری سهم گرفتند،آن رژیمی که بنام پیمان امنیتی با امریکا قرار داد فروش افغانستان را آغاز نمود.

با به میان آمدن اداره عین وغین دربخشهای مختلف زندگی مردم بطور بی سابقه مشکلات جدی پدید آمداست ،که در اثر آن باور نسبی مردم هم به این رژیم گسیخت،وزیران میدانند که اداره دو سر به انفجار داخلی مواجه است،لذا به عنوان استعفاء از کشور فرار میکنند.

بزرگترین شرم اینکه اداره مسلوب الاختیار کابل از مؤثریت حملات پیهم وکوبنده مجاهدین وپیشروی های چشم گیر آنها چنان در هراس اند حتی که در شهرهای مرکزی هم احساس امن واستقرار نمیکنند،وبه جدیت تام اقرار میکنند که امسال ولایات کشورعموماً به خصوص فاریاب، جوزجان، هلمند، بدخشان، قندوز وبغلان سقوط میکند،چونکه به وزیران اداره کابل منافعی شخصی شان برهرچیز دیگر اولویت دارد،لهذا خطر نابودی جان آنها را به استعفاء مجبور ساخته است.

وضعیت جاری اداره کابل همانند وضعیت اداره کمونیستی نجیب که ازهم پاشید، به نیستی مواجه شده است،از یکسو حملات مرگبار وغیر منتظره مجاهدین واز طرف دیگر کشمکش های داخلی که ممکن سبب اضمحلال رژیم شود وان شاء الله العزیز خواهد شد.وماذلک علی الله بعزیز.

د شهید محصل بشیر احمد ریان یاد

د ۱۳۹۵ هـ ش کال د حمل په ۸ مه نیټه رسنیو خبر ورکړ چې د کندهار پوهنتون د ژبو او اد بیاتو د پوهنځي دمحصل، لیکوال او ژورنالیست بشیراحمد ریان جسد د کندهار په بولدک ولسوالۍ کې موندل شوی دی.

۲۲ کلن بشیر احمد ریان د نوموتي لیکوال عبدالله گل ریان زوی او د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ اوسیدونکی و، د بشیر احمد ریان په اړه ویل کیږي چې الله تعالی ورته په لیکوالۍ کې خاص استعداد ورکړی و، نوموړي د ۲۲ کلنۍ په عمر د تحصیل او تعلم تر څنګ تر شلو زیات کتابونه لیکلي او ژباړلي و چې د څینو نومونه یې دادي.

۱- زرینې کرښې. ۲- غوره شوي نبوي حدیثونه. ۳- غازي احمد شاه بابا. ٤- د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک. ٥- د تاریخ له څپرکو څخه اړین معلومات. ٦- د جغرافیې له نړۍ څخه معلومات ۷- د نړۍ حیرانوونکې پېښې او معلومات. ۸- خلیفه هارون الرشید. ۹- فتوح الغیب. ۱۰- د مستندو دعاوو ټولګه. ۱۱- د نړۍ د هېوادونو لنډه پېژندنه. ۱۲ – سیرة النعمان ۱۳ – د میرمنو فقهي مسائل١٤ – په اروپا کې اسلامي فتوحات. او داسې نور

بشیر احمد ریان د کندهار پوهنتون له ممتازو زده کوونکو څخه و چې د تحصیل تر څنګ یې د ازاد او د دین او هیواد ګټو ته د متعهد ژورنالیست په حیث کارونه هم کول. خو د شهادت له نیټې دوه نیمې میاشتې وړاندې کله یې چې دپوهنتون ددریم کال د وروستۍ ازمویني وروستۍ پرچه حل کړه د کندهار د حکومتي اداري استخباراتي چارواکو ونیو چې بیا یې هیڅ درک معلوم نه شو تردې چې بې روحه جسد یې د کندهار د بولدک ولسوالۍ په غرنۍ سیمه کې وموندل شو.

د بشیر احمد ریان شهادت د هیواد او نړۍ په لراوبر کې د متدینو او واقعي افغانانو زړونه

داسې ودردول چې ټولو يې په يوه غږ د ملاتړ او غمشريکۍ غږ پورته کړ. په خواله رسنيو کې څو ورځې مسلسل د د شهيد ريان د قاتلانو د اعدام او عدالت غوښتلو لپاره مبارزه وشو چې لا هم دغه لړۍ روانه ده.

د خواله رسنيوکارووونکو وليکل چې د تکړه محصل بشير احمد ريان د شهادت تر شا اصلي عامل زمونږ ددين او هيوادد‌بنمنانو هغه دسيسه ده چې غواړي ددې هيواد نابغه استعدادونه له منځه يوسي .

په کندهار ولايت کې ددې ولايت د امنيه قومندان جنرال رازق لخوا چې په ظلم او قساوت شهرت لري تر دې وړاندې هم سلګونه متدين او منور ځوانان په مرموزو مرګونو وژل شوي چې د ډيرو يې تراوسه جسدونه هم نادرکه دي .

ددغو ځوانانو د ناترسه وژلو علت يوازې دادی چې هغوی د علم او پوهاوي رڼا خپروي ، د وحشت او يرغل اقتدار ته غاړه نه ږدي او غواړي يوازې د الله تعالی بندګان پاته شي.

د شهيد محصل بشير احمد ريان په وژلو ډيرو خلکو اوښکې تويې کړې او له اعتراض ډګ اظهارات يې وکړل چې د خواله رسنيو د ځينو کارکوونکو څرګندونې دلته درسره شريکوو.

ليکوال او د نظر خاوند نظر محمد مطمئن ليکي :

تيره اونۍ د کندهار پوهنتون اړوند ځينو وروڼو سره ناست وم، هغوی وويل چې د پوهنتون محصل بشيراحمد ريان د پوهنتون له انګړ څخه وړل شوی، معلوم نه دی چې چيرته دی، محصلينو او ځينو استادانو يې په امنيتي ادارو کې پوښتنه کړې، هغوی ورته ويلی چې زمونږ سره نه دی بندي، پرون يې د مړي جسد پيداشوی.

هغه غوښتل چې پوهنتون ووايي او تحصيل وکړي، نه وو خبر چې په کندهار کې لوړ تحصيلات کول به د سر په بيه ورته تمام شي. الله ج دي مونږ له ناپوهو وسلوالو خلاص کړي چې زمونږ استعدادونه راته وژني. بشير جان توپک نه درلود، هغه په جيب کې جارحه الات نه درلود، هغه کتابونه ليکل او ژباړل، د بشير جان روح دي خوشاله او ارام وي.

وتلي ليکوال حامد افغان ليکي:

د شهيد ريان وحشي قاتلان د هر ډول لعنت مستحق دي، هغه چې د نظام، نظام نارې وهي اصلاً هغوی د دې قتل او وحشت پال نظام د قاتلانو ملاتړي او په دې ناروا قتلونو کې شريک دي، او که يې شريک نه بولي نو په دې اداره کې دومره نر شته چې د يوه مظلوم محصل،

ژورنالیست او قلموال شهید د ناروا وژني پوښتنه وکړي؟!

لیکوال عبدالرقیب رقیب لیکي:

دوي به نـو داسي لیکـوال څنګـه وزغمـلاي شي چي الله ته دومره په عاجزي سر ښکته کـوي. دوي ته خو هغه لیکوالان! د قدر وړ دي چي د خره د لغتو کیف ورته بیانوي او یا ورته د کچرو لکچر ورکـوي دوي هغـه کدرونـه بـولي چـي ډول ورتـه تشریح کړي او یا د یوسف علیه السلام قراني قصه په افسانه تعبیر کړي. دا څوان خو قران تـه متعهـد وو او فکرونه یي ویښول ؛ دوي ته د زغملو نه وو

لیکـوال او شـاعر مشـفق حریـت مـل لیکلي:

له نږدې پنځو شپږو کلونو راهیسـې د شـهید بشیر احمد ریان له لیکنو او ژباړو سره اشنا وم خو هره لیکنه یې تاریخي، علمي او څېړنیزه وه نه پکې کوم اختلافي مسایل و او نه کـوم سیاسي تکـي، سر او کار یې له علم او پوهې سره و خو نه پوهیږم چې مونږ ولې بې ګناه او بې جرمه وژل کیږو، ولې مو هغه څوک نه پریږښودل کیږي چې خپل تیـاره هېواد ته د پوهې رڼا ګاني راوړي؟

ما ښاغلی ریان نور نه پېژانـده چـې څـوک و خو دا چې علمیت او استعداد یې درلـود، هېـواد او ولس ته یې ګټه رسېدله او ژمن فرهنګپال و نو پـه شهادت یې د زړه له تله ودردیدم.

لیکوال او شاعر قاري سعید لیکلي:

هغوی چې دا زلمی ونـه زغامـه نـو مطلـب دا چې سړیتوب او شرافت نه شي زغملی.

ددې زلمي شکنجه له شـک پرتـه د دیانـت او افغانیت شکنجه وه، باور وکړئ بشیر احمد یـوازې قلم او کتاب پیژندل. د هغه وژل د قلـم قتلـول او د کتاب سنګسارول و.

د غرب کاسه لیسانو ثابته کـړه چـې دوی تـر کومې کچې دني او اخبث دي. هغـوی ددا سـې بې ازاره زلمي ځواني ورژوله چې باور وکـړه د چنګیـز محکمې به هم ښېلی وای.

د کنـدهار پوهنتـون لـه نـورو محصـلینو کـه بشیر یوازینی امتیاز درلود هغه به دا وه چې سوچه ږیره یې درلوده، پنځه وختـه یـې لمـونځ کـاوو. بـې لاری او بدکاری نه و.

دې فـاجعې وښـوده چـې د وحشي ـ نظـام چارواکو له دیانت او شرافت سره بدي را اخیسـتې او د شرافت څښتنان هیڅ ځای هم نشي زغملی.

الله تعـالی دې شـهید بشـیراحمد تـه جنتونـه نصیب او کورنۍ ته دې صبر ، اجـر او نعـم البـدل ورکړي.

دسرمقالې! ليکلو څلور مرحلې:

سرمقالـه ليکـونکی بايـد ترهرځـه دمخـه دسرمقـالې لپـاره موضـوع غـوره کـړي، يعنـي دا پريکړه وکړي چې نن په کومـه موضـوع سرمقالـه ليکم؟ او پـر کومـه تبصـره ؟معمـول دادی چـې سرمقاله هميش په مهمه موضوعه ليکل کېږی او تبصـره نسـبتاً پـه کـم اهميـت درلـودونکې موضوع ليکل کېږي! خـو اهميـت يـو اضـافي امر دی؛ دا چې دورځپانو يا مجلو اندونه او نظريـات يو تربلـه تـوپير لـري! پاليسـياني او لرليدونـه يـې سره فرق لري، دهرې ورځپانې - مجلې پاليسـی ته په کتو موضوع دسرمقـالې ليکلـو لپـاره غـوره کېږي ، په مشهورو او لويـو ورځپـانو کـې دادارې دننـه د مشـاورت او سـلا وروسـته يـوه موضـوع دسرمقالې لپاره ټاکـل کېږي، يعنـي دورځپـانې - مجلې مسؤل ، سرمقاله ليکونکی او دادارې غـړي پخپلمنځو کې دنظرونو دشريکولو وروسته په دې غور کوي چې پـه کومـه موضـوع سرمقالـه ليکـل ارزښت لري؟ او په اړه يـې څـه دريځ او څـه ويـل پکاردي؟

په سرمقاله ليکلو کې پـه پاليسـی سربيـره دوه نورې خبرې هم لحاظول ضروردي:

۱ – ترهر څه وړاندې دارزونـه پکـارده چـې دخلکو، عامه امنيت ،دملي او ديني ارزښـتونو پـه پـام کـې نيولـو سره کومـه موضـوع ډېـر ارزښـت لري؟ کلکه نه کله په يو وخت کې څو موضـوعات داسې پيدا شي چې په هغو کې هـره يـوه موضـوع پخپل ځای جلا اهميت لري،په دغسې وخت کې د هغو موضاعاتو له منځه دغوراوي لپاره تدريجي اهميت ته په پام غور پکاردي چې کومـه موضـوع خـورا ډېـر اهميـت لـري؟ عمومـاً دود داده چـې سرمقاله په نړيوالو موضوعاتو او تبصره پـه کورنيـو موضوعاتو ليکل کېږي!!

۲ – توازن او تنوع:

دسرمقـا لـې او تبصـرې لپـاره دموضـوعاتو غـوره کولوپرمهـال تـوازن سـاتل اړيـن دی، يعنـې سرمقالـه بايـد پـه اهمـه موضـوع و ليکـل شي، تبصره ، تحليـل اوتجزيـه پـه نسـبتاً کـم اهميـت لرونکـې موضـوع راشي، او دواړو لپـاره يـودول موضـوعات غـوره کـول مناسـب نـدي، دکورنيـو ، نړيوالو او ملي موضـوعاتو څخـه عـلاوه دسـياسي، اقتصادي، کلتـوري او تفريحـي موضـوعاتو تـرمنځ

هم توازن ساتل اړين دی، څو په ادارتي کالمونو کې متنوع موادو ته ځای پیدا شي او تر يې دمختلفو سیمو، ډلو او ذوقونو خاوندان ګټه واخلي.

دوهمه مرحله:

اخذلیکونو ته لاس رسی:

دسرمقالې لیکلو لپاره دموادو مندلو لویه زخمره او زریعه دلیکوال خپل ذهن دی؛! د سرمقاله لیکونکي ذهن نه یواځي ځینې حقایق، واقعات، ارقام او اعداد په یو ځانګړي ترتیب یا بڼه دوړاندې کولو مسؤلیت سرته رسوي بلکې هغه دیو داسې غني کتابتون اړتیا پوره کوي چې په هغه کې لیکوال خپله تجربه، مشاهده، مطالعه، او دمختلفو مسایلو په اړه معلومات خوندي ساتلي،چې دکوم محنت او زیار ایستلو پرته یې سملاسي په لیکنه کې ځایوي او تر ګټه پورته کوي، هم دلیکنې لپاره د ځانګړي نهج یا اسلوب غوره کولو لپاره دسرمقاله لیکونکی ذهني وړتیا اوچمتوالی خاص اهمیت او تاثیر لري، خو هر سړی پوهیږي چې دنړۍ دټولو علومو او فنونو په اړه علمي او معلوماتي مواد سرمقاله لیکونکي لپاره په ذهن کې خوندي کول ناشوني خبره ده ، هغه خامخا اړتیا لري چې دخپلو ذهني او فکري معلوماتو سربیره له نورو معلوماتي مراجعو اوزرایعو نه مواد ترلاسه کړي، چې په دې توګه ورځپاڼې، مجلې، یونلیکونه ، لیدنې ،مرکې ، سرلیکنې، دتاریخ، قانون او اقتصاد کتابونه دجغرافیې کتابونه ،ولسي مټلونه، دمجلو او ورځپاڼو کلیکسو نو نه راپورتاژونه دخبرو نو ارقام هغه څه دي چې ورته لاس سرسی دسرمقاله لیکونکي سره مرسته کوي او ورته ګټه ورکوي.

دریمه مرحله:

سرمقاله لیکل:

تراوسه چې څومره بحث او خبرې وشوې دا ټولې دسرمقالې لیکلو څخه د وړاندې پراونو پورې یې تړاو درلود ،سرمقالې لپاره د موضوع ټاکلو، دعنوان تعینولو او دارینو موادو ترلاسه کولو وروسته دسرمقالې لیکلو مرحله راځي،چې دلیکلو پرمهال به یې لاندې خبرې په ذهن کې کینول ضرور وي:

لومړی: دسرمقالې لیکنیز هیئت ته پام :

د سرمقالې تل یو جلا لیکنیز هیئت او خاص ترکیب لري ، چې دلیکلو پرمهال ورته پام ضرور دی:سرمقاله یو ډول مضمون یامقاله ده او دمضمون د لیکنیز هیئت لپاره کومه حتمي کلیه نه ټاکل کېږي خو په عامه توګه دسرمقالې لیکنې ترکیبي هیئت باید په لاندې ډول وي:

۱ – عنوان ۲ – دواقعاتو او حقایقو لنډ یز ۳ - سپیناوی او لرلید ۴ – تجزیه، تبصره بحث او دلایل ۴- فیصله، نتیجه، رایه او پیغام

دسرمقالې عنوان داهمیت له پلوه هم هغه بڼه لري کوم اهمیت چې په خبر کې دخبر سرخیاني لري ! دخبر سرخیاني په څو الفاظو کې

دټول خبر لنډيز رانغاړي، د سرمقالې عنوان بايد هم دټولې سرمقالې د روح مظهر وي مثلا:[په خوست کې د امريکايانو بل جنايت !] [داسلامي نړۍ يو والی دوخت اړتيا ... !] له دغسې عنواناتو څخه په اسانه فهم اخستل کېږي چې دسرمقالې لب لباب څه دی؟ عنوان ته دتبصرې بنه ورکولو ترڅنګ ديته پام پکاردی چې بايد اسان او عام فهمه وي، پخوا به سرمقاله ليکونکو چې کله پر عامو ملي او ټولنيزو موضوعاتو سرمقالې ليکلې هغوی به يواځې د مغلقو عنوانو راوړو ته ډېر پام کاوه لکه [...مرموزه چوپتيا دځه لپاره ؟][تن همه داغ داغ شد؟] دغه ډول عنوانات که دموضوع سره هر څومره زيات مطابقت هم ولري، خو يو عام لوستونکی ورباندې له فهم اخستلو څخه قاصردی دعنوان ښکلا داده چې مختصرا سان او پخپل ځای دتبصرې، رايې، تنقيد او نظر حيثيت ولري...

پيل:

سرمقاله که په هره موضوع ليکل کېږي دهغې پيل بايد همېش ددې څرګندولو څخه وشي چې معامله ياموضوع څه ده؟ اوهغه کوم اميدونه، پېښې او اندېښنې دي چې له امله يې ليکوال قلم پورته کولو ته اړ شوی دی؟ له دې وجې دسرمقالې پيل به تل په لاندې څلورو څېزونوکې له يو څېز څخه کول پکار وي:

۱ – خبر، ياپېښه ۲ – منلی حقيقت ۳- راتلونکی خطر ۴ - ښه اميد

که کوم خبر دبحث موضوع وه، لومړی په دوه کرښو کې دهغه لنډيز راوړل پکاردي

ځيني وخت سرمقاله د کوم خبر يا پېښې په اړه ليکل نه وی په پام کې، بلکې يو ښکاره حقيقت موضوع وي، او تري اصلاح اوتعميرهدف وي، په دغسي مورد کې [دملي ارزښتونو ساتنه][د فساد په وړاندې مبارزه][لږ فکروکړئ!] [نوی نسل مو په کومه خوا درومي؟] په بنه عنوانونه هم راوړل کيدای شي.

دسرمقالو يو ډول دا هم دی چې پيل يې دکوم ښکاره حقيقت بيانولو پرځای دکوم راتلونکي خطر يا د کومې راتلونکې خوشالۍ په اړه له وړاندوينې څخه وشي لکه [له هوښياری کار واخلئ!] [...دښمن قوي او مکار دی؟] يا

[د ځينو لورپورو کړيو ترمنځ دا افواه عامه ده چې دګوډاګي رژيم په چارواکو له بيرون څخه فشار دی چې افغانستان ته دشرابو په راوړو به هغوی بنديز نه لګوي]

دسرمقالې په ابتدايې برخه کې حقايق بيا نيږي! او دا هم هغسې بنه لری لکه د خبر ابتدايې برخه! په پيل کې دحقايقو په مطالعه لوستونکي پوهيږي چې دسرمقالې اساسي موضوع کومه پېښه يا خبر دی؟

سپيناوی يا لرليد:

دحقایقو له بیانولو وروسته په سرمقاله کې سپیناوی کولی شي، که اړتیا وه دپیښې شالید ته هم پکې لنډه کتنه کیږي ، خو ضروري نده، چې ور باندې په تفصیل سره بحث و شي په عامه توګه ورته یواځې اشاره هم کافي ده ، په دې علاوه په سرمقاله کې هغه حقایق راسپړل کیږي چې په عامو خبرونو کې شتون ونلري، سرمقاله لیکونکی په تحقیق او جستجو داسې نادر حقایق معلوموي چې دېر ځلي هغه دلوستونکو لپاره دانکشاف بڼه و لري! په ښه توګه ددې مرحلې څخه دپورېوتو لپاره اوږده مشق ، عمیقې مطالعې، ژور سوچ او سالم فکر ته اړتیاده او بیا له سپیناوي وروسته په پای کې سرمقاله لیکونکی خپله پریکړه! رایه! او نتیجه ښکاره کوي ... نوربیا ...

د عمر رضی الله تعالی عنه دانصاف بېلګه

لیکوالہ: ایمان وردک

د اسلام دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د خلافت په دور کې یو نصراني (عیسایي) سوداګر خپل د سوداګری آسونو سره د فرات له سیند څخه اسلامي سرحد ته داخل شو ؛ زیاد بن حدیر ورڅخه دمحصول غوښتنه وکړه، تاجر هم ورته وسپارله.

کله چې نوموړی سوداګر بیرته راستون شو او غوښتل یې بیرته له سرحده واوړي، نو زیاد بن حدیر بیا دویم ځل د هغه آسونو په بدل کې تري محصول وغوښت کوم چې نه وو پلورل شوي؛ خو دا ځل سوداګر خپل اعتراض وښود، او د محصول له ورکولو څخه یې ډډه وکړه؛ هغه خپل آسونه هملته له خپل غلام سره پریښول او خپله مدینې منورې ته په داسې نیت لاړ، تر څو د مسلمانانو خلیفه ته د زیاد بن حدیر شکایت وکړي.

مدینې منورې ته له رسیدو سره سم یې حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه ته داسې شکایت وراندې کړ؛ هغه(زیاد بن حدیر) له مانه د آسونو په بدل کې دویم ځل محصول غواړي، په داسې حال کې چې یو ځل مې یې د محصول حق اداء کړی. حضرت عمر رضی الله تعالی عنه چې کله د سوداګر شکایت واورید، په لنډ ځواب کې یې ورته وویل، ستا کار به وشي.

عیسایي سوداګر پوی شو چې د مسلمانانو خلیفه د ده شکایت ته کوم اهمیت ورنه کړ ؛ د دېرې مایوسۍ په حالت کې بیرته د فرات سیند د چوکۍ په لور راغی او د زیاد د غوښتنې مطابق یې د محصول رقم ادا کړ. خو دا ځل زیاد بن حدیر د محصول له اخیستو څخه ډډه وکړه؛ او ورته ویې ویل، مورږ ته د خلیفه له خوا حکم راغلی چې ستا نه دویم ځل لپاره محصول وانخلو.

عیسایي سوداګر د دې خبرې تر اغیزې لاندې راغی چې د مسلمانو خلیفه دومره ژر خپل کار وکړ؛ چې زما حق ما نه مخکې دلته راورسید. عیسایي سوداګر وویل، اې زیاده! زه عیسویت پریږدم او د هغه چا دین منم کوم چا چې تا ته د همدغه محصول په اړه فرمـــان رالیږلـــی دی. یا زیاد إني بـرئ مـن النصرانية و إني علـى دیـن الرجـل الذي ارسل إليک هذا الكتاب. كتاب الخراج.

(اوويشتمه برخه)

مفتي ابو محمد (عثماني)

فقهي مسائل

دجهاد

کفارو سره دجګړې داختتام اسباب:

اسلام منل، جزیه ورکول، سوله کول!

محاربو کفارو سره دسولې دجواز څلورم شرط :

فقهاوو رح لیکلي دي، چې دمسلمانانو پاچا یا امام ته ددې مشروعیت نشته، چې داسې شرطونه دسولې یا مهادنې په ټرون یا عقد کې لاسلیک کړي، چې هغه په اسلامي شریعت کې ممنوع او محظور وي ،یعنې کفارو سره دسولې عقد پداسې شرطونو وکړي ،چې شریعت یې جواز نه ورکوي ،په (بدائع الصنائع للکاساني ،البحرالرائق ،حاشیة الدسوقي ،المغني)وغیره کتابونوکې چې تقریباًدمذاهبواربعه وو ، ترمنځ اتفاقي مسئله معلومیږي، وایې چې داسې شرطونه چې شریعت کې محظور او ممنوع وي دمصالحت په عقدکې یې اینبودل نا روا دي، لکه داچې : سوله پدې شرط ورسره امام وکړي ،چې کفاربه دمسلمانانوپه سیمواو ښارونو باندې خراج وردي ،یاپدې شرط ورسره سوله وکړي، چې دمسلمانانوپاچابه دوئ ته مال او پیسې ورورې ،یاپدې شرط چې ددوئ هغه ماشومان چې مسلمانانوسره بندیان دي، دوئ ته به یې بیرته ورکوي ،یاپدې شرط چې کفار به حرم شریف ته داخلیږي، یا به دوئ حجاز کې میشت کیږي ،یاپدې شرط ورسره سوله مسلمانان وکړي، چې مجاهدین به ورسره دهمیش لپاره قتال یا جهاد نه کوي ،یاپدې شرط چې دوئ به زمونږ دمسلمانانو اسیران نه آزادوي ،دا او دې ته ورته داسې شرطونه وي، چې شریعت کې ممنوع او دسولې په عقد کې ددې شرطونو داینبودلو څخه ممانعت شوی ،نو په عقد مصالحت کې یې وضعه کول نا جایز دي ،خوکه بیا یې هم پکې دا سې ناروا شرطونه کښینبودل دا باطل دي او پر امام یې نقض واجب دی لکه په (البدائع ۷ / ۱۰۹ ، والبحر

الرائق ٥ / ٨٥ ، وحاشية الدسوقي ٢ / ٢٠٦ ، وتحفة المحتاج ٩/ ٣٠٦ ـ ٣٠٧ ، ومغني المحتاج ٤ / ٢٦٠ ـ ٢٦١ ، والمغني ٨ / ٤٦٠ ـ ٤٦١ .) کې چې لیکل شوي دي ، ددې شرطونودایښودلو په وجه ددې سولې یا مهادنې نقض او ماتول څکه اړین دي، چې الله تعالی جل جلاله فرمایي چې: { فَلا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنْتُمُ الأَعْلَوْنَ / سورة محمد / ٣٥ . } ددې آیت کریمه نه داسې مفهوم استفاده کیږي، چې تاسو ځانونوکې ضعف او رکاکت مه پیدا کوئ او پداسې حالت کې کفارو سره دسولې عقد لاسلیکوئ ،چې تاسو قوت کې یاست او موقف مو او ځواک مو ډیر وي ،نو پداسې ظروفو کې بیا داسې شرطونه پرځان مه ږدئ، چې هغه ستاسو دریځ کمزوری معرفي کوي او تاسو پرې ددښمن پروړاندې ضعیف ښکارئ .

همداسې امیرالمؤمنین عمر فاروق رضی الله تعالی عنه فرمایي چې : ولقول عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : تُرَدُّ النَّاسُ مِنَ الْجَهَالاتِ إِلَى السُّنَّةِ / أورده السيوطي في مفتاح الجنة (ص ٨٨ ـ ط الريان) وعزاه إلى البيهقي في المدخل إلى السنن .

په (الموسوعة الفقهية) کې لیکې چې :دسولې په عقد کې یو دهغو شرطونو څخه چې فاسد دي ،داسې شرط دی، چې څوک له کفارو نه مونږ مسلمانانوته راغی، نو مونږ به یې بیرته ورمستردوو،نوکه چیرته یې دعدم رد شرط عقد مصالحت کې وضع کړاو یا یې مطلق عقد وکړ، ددې نه پرته چې دکفارو نه چې څوک راشي مونږ ته، نو مونږ به یې ورمستردوو اویا نه ،یعنې نه په کې دده استرداد او نه یې پکې عدم استرداد ذکر شو او یا دښځو پورې مختص شو، نو دټولوفقهاوو په اتفاق سره یې مستردول نشته ،اوکه چیرته یې استرداد له رجالو یا سړیو پورې خاص کړ او یایې داسترداد ذکر په عقد کې وکړ،خو دکومې نوعې پورې مختص نکړ ،نو ددې په مسترد کولو کې دفقهاوو اختلاف دی .احناف علماء رح او بعضې مالکیان رح فرمایي چې که چیرته یې په عقد صلح کې داسې کوم شرط کښیښود ،چې کوم مسلمان له کفارو څخه مسلمانانوته راشي، نو بیرته به یې ورمستردوي، دا سې شرط لګول باطل دي او وفا پرې واجب نده او دوئ وایې : چې دا آیت حتی درجالو په نسخه کې هم دلیل دی،څکه دښځو او سړومینځ کې کوم فرق نشته ،بلکې دسړواسیرانو دبیرته ورکولومفسده ترهغوئ غټه هم ده، لکه چې فرمایي : { فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ/ سورة الممتحنة / ١٠ . }.

چیرته چې دمسلمانانو استردادمشروعیت شته ، هغه هاغه قوم کې دی ،چې هغوئ دیو چاپه دمسلمانیدوپه صورت کې هغوئ ته په تعذیب ورکولوکې مبالغه نکوي ،څکه هره قبیله دبلې

قبيلې په کوم کس باندې پدې صورت کې تعرض نه کوي ،يوازې خپله قبيله ورته تهديد ورکوي او هغه هم دقيد ،اسارت او اهانت په اندازه وي ،له نبوي ص هجرت نه وروسته د(ابوجندل او ابو بصير) غوندې اشخاصو اسلام راوړ، چې نږدې شمير يې (۷۰) کسو ته ورسيد، خوداچې ددوئ دخپلې قبيلې وګړي وو، نو ددوئ په تعذيب کې يې زياته مبالغه ونکړه ،خو اوس خبره ددې بر عکس ده ،دامسئله پدې کتابونو کې په تفصيلې شکل شته :(فتح القدير ٥ / ٢٠٨ ـ ٢٠٩ ، ومواهب الجليل والتاج والإكليل ٣ / ٣٨٦ ـ ٣٨٧ ، وحاشية الدسوقي ٢ / ٢٠٦ ، وعقد الجواهر الثمينة ١ / ٤٩٨ .

جمهور فقهاء رح (مالكيان فى المذهب،شوافع او حنابله رح) وايې : چې که چيرته کفارو سره دمسلمانانو امام دسولې پر وخت دا شرط کښيښود ،چې ددوئ څوک مسلمانانو ته راغلل، نو بيرته به يې ورکوي ،نوددوئ دقبيلې په نسبت پر امام باندې وفا درجالو په هکله لازم ده :(الحاوي الكبير ١٨ / ٤١٦، والجامع لأحكام القرآن ١٨ / ٥٤ . وحاشية الدسوقي ٢ / ٢٠٦، ومغني المحتاج ٤ / ٢٦٣ ـ ٢٦٤ ، ومواهب الجليل ٣/ ٣٨٦ ، والإنصاف ٤ / ٢١٣ ـ ٢١٤ . والمغني ٨ / ٤٦٥) ، دوئ دليل کې وايې : چې څکه چې نبي عليه الصلاة والسلام له قريشو سره په (حديبيه) کې سوله پدې شرط وکړه، چې که چيرته څوک له دوئ (مشرکانو) څخه مسلمان شو او دوئ ته راغی، نوبيرته به يې ورليږي ،نو(ابو جندل بن سهيل) راغی نو (سهيل بن عمرو)رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل، چې دا رومبی هغه خبره ده، چې زه يې درڅخه پوره کيدل يا پرې وفا درنه غواړم ،نو رسول الله صلى الله عليه وسلم (ابوجندل)ته وويل چې يا (اباجندله) !ته صبرکوه او اجرله الله تعالى نه غواړه ،څکه مونږ غدر نه کوو(وعده خلافي نه کوو)او الله تعالى به تاته يوه لار ه خلاصه کړي اوتاته به کوم مخرج ومومي :(النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَالَحَ قُرَيْشًا بِالْحُدَيْبِيَةِ عَلَى أَنْ يَرُدَّ مَنْ جَاءَهُ مِنْهُمْ مُسْلِمًا عَلَيْهِمْ ، فَجَاءَهُ أَبُو جَنْدَلِ بْنُ سُهَيْلٍ ، فَقَالَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو : هَذَا يَا مُحَمَّدُ أَوَّلُ مَنْ أُقَاضِيكَ أَنْ تَرُدَّهُ عَلَيَّ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأَبِي جَنْدَلٍ : " يَا أَبَا جَنْدَلٍ ، اصْبِرْ وَاحْتَسِبْ ، فَإِنَّا لا نَغْدِرُ ، وَإِنَّ اللَّهَ جَاعِلٌ لَكَ فَرَجًا وَمَخْرَجًا " / أخرجه البخاري (فتح الباري ٥ / ٣٢٩ ، ٣٣٠ ـ)

دضرورت پر وخت دسولې په عقد کې ديوه محظورشرط کول:

په (الموسوعة الفقية) کې داسې ليکي : يَجُوزُ عِنْدَ الضَّرُورَةِ عَقْدُ الْهُدْنَةِ بِشَرْطٍ مَحْظُورٍ ، وَمِنْ أَمْثِلَةِ ذَلِكَ اشْتِرَاطُ بَذْلِ الْمَالِ لِلْكُفَّارِ ..... يعني دارتيا پر وخت که کفارو سره دسولې په عقد کې

داسې یوه ماده دشرط په توګه ومنل شي ، چې هغه ممنوع او محظور وي، نوهم جواز لري ،یعنې جواز یې دضرورت تر حده پورې دارتیا په وجه دی ،تولو فقهاوو پدې اتفاق کړی، چې له حربي کفارو سره له ضرورت پرته په داسې مال باندې سوله نده روا، چې ګوندې مسلمانان به یې اهل حربو ته ورکوي ،ځکه الله تعالی اسلام ته غلبه ورکړي ،اودایې په تولو ادیانو غالب کړی دی ،همداسې یې جنت ددوئ شهداوو او غازیانو دواړوته تیار کړی دی ،{ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِاللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ/ سورة التوبة / ١١١ . }نو پداسې حالاتوکې چې اسلام یو غالب دین دی ،ددې جواز نشته، چې مسلمانان پر ځان محاربو کفارو ته پیسې کښیږدي ،خو که ضرورت پیښ شواو ورته حاجت وو، نو بیا دا کار هم جایز دی، لکه دې فقهي کتابونو او تفسیرونو کې چې دا مسئله لیکل شوي ده : (الحاوي ١٨ / ٤١٠ ، وتحفة المحتاج ٩ / ٣٠٦ ، والفتاوى الهندية ٢ / ١٩٧ ، وشرح السير الكبير ٥ / ١٦٩٢ ، والمغني ٨ / ٤٦٠ ، وحاشية الدسوقي ٢ / ٢٠٦ ، وأحكام القرآن للجصاص ٣ / ٧٠ ط دار الكتاب العربي) .

دضرورت دصورتونوڅخه یوصورت دادی، چې چیرته په کوم جنګ یا بل ځای کې مسلمانان دکفارو لخوا محاصره وي او په پیسوباندې دڅان دخلاصولوسوله ورسره وکړي جواز لري ،دخندق په په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم اراده وکړه، چې دمدینې منورې دمیوو په دریمه برخه له مشرکانوسره سوله وکړي ،نو د(سعد بن معاذرض او سعد بن عباده رض) سره یې پرې مشوره وکړه ،نو هغوئ دواړو ورته وویل : چې که چیرته ته پدې دالله ج له لورې مامور شوی یې، نوبیا دالله تعالی امر باندې عمل وکړه ،دالله تعالی حکم ته سمعاً و طاعةً ،او که چیرته داسې نه وي، نو بیا یې ورسره نه منو(أخرجه عبد الرزاق في المصنف (٥ / ٣٦٧ ، ٣٦٨ ـ) .

دویم هغه صورت کې کفارو سره دسولې عقد کې پیسې ورکول روا دي ،چې مسلمانان له کفارو سره بندیان وي او دهغوئ دڅانونو خطر وي،او هغوئ د ډیر تکلیف او شکنجو لاندې وي، نو دې صورت کې رواده ، چې امام یا پاچاددوئ په آزادولوکې پیسې- مصرف کړي او دوئ ترې خلاص کړي ،خو که ددوئ په فدیه کې دپیسو پر ځای دوئ ته ددوئ اسیران ورکړي نو دا به غوره وي لکه : (الموسوعة الفقهية الكويتية) هم دا مسئله لیکلې ده .

نوربیا .....

د شعر او ترنم د مورچل اتلانو !

مفتي شاهد (حقاني)

دبشريت ستر لارښودحضرت محمد مصطفى ﷺ لا څوارلس سوه کاله مخکې ديوه مسلمان شاعر ذوقي پنځونې اوله تخيل نه زيږيدلې حماسي کلام يا شعرته د(حکمت) جامع اوله محتوى دکه کلمه کارولې وه، ((ان من الشعر لحکمة (صحيح البخاري))چې حديث پوهان (حکمت) دعلم ،هغه ربښتني ويناچې له حق سره پيوندوي ،عدل ،کتور کلام چې له جهالت څخه پکې ژوغورنه وي کړي ده ،همداسې به په مسجدنبوي کې حسان ابن ثابت ﷺته داسلام پيغمبرحضرت محمد ﷺپخپله منبر ودراوه ،اوحسان ﷺ به پرې له رسول الله ﷺنه دشعرپه ژبه دفاع کوله اورسول الله ﷺبه دحسان بن ثابت ﷺ په هکله ويل چې (روح القدس) دحسان تاييد کوي ((وکان النبي صلى الله عليه وآله وسلم ينصب له منبرا في المسجد ،يقوم عليه قائما ينافح عن رسول الله صلى الله عليه وآله ،ورسول الله صلى الله عليه وآله يقول: ان الله يؤيد حسانا بروح القدس ما نافح عن رسول الله صلى الله عليه وآله.))چې همدا بشارتونه ديوه مسلمان او ژمن شاعردمقام داوچتوالې لپاره بسنه کوي او ښايې دروح القدس همدا تاييد وي، چې شعر يې دخلکوسينوکې ولولې اودسوزونکې اور بخړکي ښندي.

شعرچې کله دترنم په هيجاني قالب کې واچول شي ،نواغيزيې بيا لکه دسمندري څپوويده زړونه له خوابه را ويښوي او دخپلو عواطفوپه پلوشوکې يې رانغاړي ،شعر يا کومه جهادي ترانه چې مترنم په خواږه غږ زمزمه کړي ،نولکه دبلالي ﷺاذان دخلکو په سترکو کې داوښکوسيندونه بهوي اواوريدونکي يوې بلې دنياته له ځانه بوځي ،داځکه چې يو خو فطرتاً خوږ غږ په اوريدونکې اغيز ښندي اوبل پکې دافغانستان غوندې دربريدلې ولس آهونو انعکاس کړی وي اوسربيره پردې دخپلو اسلافو شهسواري اواتلولي يې غومی زيږوي اودده اسلامي غيرت کې ساه پوه کوي .

دحماسي او جهادي اشعاروپه مترنمه بنه ويل ،يوممدوح كار څكه دى، چې دكفارو خلاف جهادته دمسلمانانوپه لمسولوكې عمده او رغنده رول لوبوي ،اسلامي شريعت هم داسې ترنم اوشعرپه خواږه اوازسره يومشروع كړنلاره بولي ،لكه په (الاداب للبيهقي)كې راغلې چې (وروينا عن جماعة من الصحابة الترنم بالشعر ، وسمع رسول الله صلى الله عليه وسلم نشيد الأعراب ، والحداء).

كه يوې خواته نن سبا توله ميديا ددښمن په لاس كې ده او دمجاهدينوپر خلاف زهرجن تبليغات كوي ،نو بل طرف ته دجهادي ترنم بلبلان اودهسكوغرونو طوطيان ،لكه دجومات دمنبر او محراب دخاوندانوغوندې جهادي ليكوته دځوانانو دومره كتارونه راجذبوي، چې دغربي ميدياشرابي خمارىان يې له خپلو فعاليتونو نهيلي كړي دي، چې داپه حقيقت كې دهغه سپيڅلي فكر اوخپلواك ذهنيت پالنه ده چې دښمنان ترې عاجز دي .

دې كې هم شك نشته، چې شعر ويل مسؤليت او شاعريومسؤل شخص دى ،داځكه چې دتولنې رهبري خلك دشاعر سره تړي ،او دده شعري پنځونې دتولنې دسمسكي يا خداى ﷻمكړه دبې لاريتوب سبب بولي ،نو چې كله شاعر او ترانه ويونكى يو مسؤل شخص شو،نوارينه ده، چې دخپل نوښتكر شعر پوله او

سرحد داسې سيمې وتاكي، چې هم يكې اسلامي اقدار پام كې نيول شوي او هم ولسي عنعنات ،كه چيرته شاعر نه دمقدساتو پولې وپيژني اونه هم دخپل مسلمان ولس دمنل شويو روايانو پروا وكړي ، نو ليري به نوي چې شعر يې دغشوتر باران لاندې راشي او منزلت يې پر مځكه ولويږي ،همدې ارزښتونوته په كتوپريكړه كولاى شو، چې زمونږ دروان جهاد ترشا دشاعرحماسي آهنګ او دترنم دبلبل خوږ غږ هغه پارونكي جديتونه او حساسيتونه دي ،چې انكار ترې شونى ندى او نه به يې دجهاد دتاريخ ليكونكي له ياده وباسي ،زمونږ تولنه لكه څنګه چې دخپلواكى په لاره كې دروحانيت داحسانونو مننديه ده، همداشاني دشاعر ،ترانه ويونكې او داعي وينا وال هم مرهون منت ده ،تل به يې خدمات ياد ساتي اوتاريخ به يې خپله حافظه كې نوي نسل ته ديوه محسن قشرپه بنه ورووپيژني !!

د مورچل دارالافتاء

مفتي ابوماريه

دزخمي ګوتو مينځ ته په غسل اواوداسه کې اوبه رسول ؟

استفتاء : محترم مفتي صاحب ! زه په پښه باندي زخمي شوم ،په اپريشن سره يې دبدن ديوې حصې څخه څه غوښه دپښوګوتو ته راوړي، چې ورسره دپښودوه ګوتې نښتي ،مګر په مينځ کې ليږ چوله لري نوپوښتنه داده : چې په اوداسه ياغسل کې دغه ځای ته اوبه رسول ضروري دي اوکنه ؟ ملامحمدسرور.

الجواب حامدا ومصليا وبعد: هو! دغه ځای ته په اوداسه اوغسل کې اوبه رسول ضروري دي.

في الطحطاوي ۷۱۱۱ قوله فرض ظاهره ان ضميره يرجع الى التخليل فيقيد فرضية التخليل مع ان الفرض انماهوالغسل ،قال في البحر عن الفتح لانه اذا لم يصل يكون الغسل فرضا .

في ردالمحتار علي بياض الطحطاوي ۷۱۱۱ وهذا بعد دخول الماء خلالها، فلو منضمة فرض . وفي ردالمحتار تحت هذه العبارة ۱۱۸۱۱ (قوله: فرض) أي التخليل لأنه حينئذ لا يمكن إيصال الماء إلا به فافهم. كذافي التاتارخانية ۸۱۱۱ .

که په عاريه کې په مستعير ضمان شرط شي ؟

استفتاء :محترم مفتي صاحب ! مايوه مجاهدته خپل موټرسايکل عارية ورکړی وو ،مګر دامي ورته ويلي و،چې که دې ورک کړ يادې خراب کړ، نوتاوان به يې راکوي ! هغه راته وويل : سمه ده . اوس له هغه څخه موټر سايکل اربکيانو بيولی دی ،نوزماحق څينې کيږي اوکنه ؟ عبدالسلام.

الجواب حامدا ومصليا وبعد: په نومورې مسئله کې دفقهاؤ اختلاف دی ،څينې يې په مستعير باندي ښودل شوی تاوان لازم ګڼي، خوزياتره فقهاء بيادعدم لزوم خبره کوي ، له اعلاء السنن څخه ددواړو رايو تطبيق معلومېږي : چې که په مستعيرتاوان ښودل شوی و، ياهغه ورته ضامن شوی وو، نودیانة ضمان ورباندي لازم دی، اوقضاءً نه دی لازم!

في التاتارخانية ۷۸۱۱۶ وفي الينابيع قال بعض اصحابنا ان العارية انما لاتضمن لعدم شرط الضمان أما لوشرط الضمان وهلک عنده يضمنها .

وفي الموسوعة الفقهية ۱۹۱\۲۰ونص الحنفية ان شرط الضمان باطل كشرط عدمه خلافا للجوهرة حيث جزم فيها بصيرورتها مضمونة بشرط الضمان .

وفي اعلاء السنن ۱۱۵\ ۷۲۹۹ الاحاديث تدل على ان للمستعير ان يلتزم ضمان العارية تبرعا وهذالالتزام يكون بحسب الديانة لاالقضاء لان هذاوعدبالضمان ويجدايفاء الوعدديانة وهذالتفصيل لانه انما يبطل شرط الضمان قضاءا لاديانة .

دشهيدانو دجنازو په اړه :

استفتاء :محترم مفتي صاحب ! ډيرى مجاهدين اوس دشهيدانوجنازي په موټرو کې وړي که څه هم هديرې ډيري نږدي وي ، نوپوښتنه داده: چې په دې کې خوبه کوم شرعي کراهيت نه وي؟ يوسائل .

الجواب حامدا ومصليا وبعد: انسان په ژوندکې هم محترم دى اودمرگ نه وروسته هم ،بياشهيد ترعامو مړيو ډير مکرم دى ،اوفقهاؤليکلي دي :چې په سبرليو باندي هديرو ته دمړو انتقال مکروه دى ،ځکه په دې کې دمړو اهانت راځي ،نوکه عذرنه وي دشهيدانو جنازي دي په اوږو وړل کېږي .

في التبيين ۵۸۳\۱ ويکره [الجنازة] على الظهر والدابة . كذافي مراقي الفلاح ص\۶۰۳ وزاد لفظ بلاعذر الخ وفي حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح : قوله : بلاعذر اما اذاكان عذر بان كان المحل بعيدا يشق حمل الرجال له اولم يكن الحامل الاواحدا .

وفي الفتاوى الولوالجية ۱۶۶\۱ جنازة الصبي احب من حمله على الدابة لان الصبي محترم كالبالغ ،وفي الحمل على الدابة اهانة واهانة المحترم مكروه .

په غنيمت کې ترتقسيم وړاندي هبه:

استفتاء : محترم مفتي صاحب ! يوه مجاهددغنيمت خپله حصه چې لاتقسيم شوى نه و،بل مجاهدملگري ته هبه کړي ،نودغه هبه صحيح ده اوکنه ؟ له ډيرو مجاهدينو څخه موليدلي ، چې همداسې يې کړى دي . ملااخترمحمد

الجواب حامدا ومصليا وبعد:په ذکرشوي صورت کې هبه دمشاع ده ،چې شرعا نه ده صحيح ،ځکه هغه شئ چې تقسيم قبلوي په هغه کې هبه بعدالتقسيم صحيح کېږي .

في الفتاوى السراجية ۴۰۵ هبة المشاع فيمايحتمل القسمة لاتجوز سواء كان من شريكه اومن غيرشريكه . ولوقبضها هل تفيدالملك ... وذكر في موضع آخر انها تفيد الملك ملكا فاسدا وبه يفتى .

وفي ردالمحتار۶۶۱\۵ لأن هبة المشاع الذي يقبل القسمة غير صحيحة الخ

دځوان مؤرخ
شهيد (ريان) په ويرکې

سيد السكيد

نه پوهيږم د ليکوال،مؤرخ او ژباړن شهيد بشير احمد ريان تقبله الله د مظلومانه شهادت تاثرات او ويـر څنګـه ترسـيم کړم،شـهيد بشـير احمـد ريـان دکنـدهار پوهنتـون دادبيـاتو پـوهنځي ددريـم کـال محصـل و، دوې مياشـتي وړانـدي د کنـدهار د مـلي امنيت وسله والو کندهار پوهنتون کي ونيو،کورنۍ او دوستانو ته يې د اسارت ځای ځايګی معلـوم نـه و،خـو تېـره ورځ يـې شـهيد جسـد د بولـدک ولسـوالۍ پـه روغتون کي ومونډل شو.

انا لله وانا اليه راجعون!

د کنـدهار دمـلي امنيـت او جـنرال رازق پـه شخصي ـ زنـدانونو کـي پـه سـلهاوو محصـلين،طالب العلمان، کسـبګران،بزګران،ځوانان او بوډاګـان ډډيـرو شـکنجو لـه املـه شـهيدان شـوي او يـا دحـبس ځخـه وروسته په مرميو سوري سوري شوي اوجسدونه يې په ريګونو او دښتونو کي مونډل شوي دي.

دعيني شاهدانو او کره شواهدو پـه اسـاس ډيـر ځله داسي هـم شـوي چـي د جـنرال رازق کـوم نـژدې توپکي وژل شـوی،په غبرګـون کـي يـې رازق دکنـدهار دلوی محبس ځخه د محکمې او څارنوالۍ لـه خبرتيـا پرته مظلوم زندانيان ايستلی او په خورا وحشيانه ډول يې شهيدان کړي دي.

شهيد ريان د هغو مظلومو زنـدانيانو لـه جملې ځخه و چي نه وسـله ورسره نيـول شـوې وه،نـه د کـوم چارواکي دقتل تور ورباندي پـوري و،نـه يـې پـه کـوم جنايې جرم کي لاس درلود،يوازينۍ ګناه يې داوه،چـي نه يې د کـريملين او سـپيني مـانۍ پـه لارويـانو پسـې اقتداء کولـه او نـه يـې هـم د خپلـو اسلامي ارزښـتونو اوملي منافعو سوداګرو ته چکچکي کولې.

هو! د شهيد تنکي ريان جرم دا و چي د ژوندانـه په ټولو چارو کي يې دبشريت لارښـود او دهغـه صـلی الله عليـه وسـلم لارويـان مقتـدايان وو،پـه اصـطلاح د روشنفکر څخه د زيـاترو بـرعکس يـې نيلسـن منـډيلا، ګانـــدي،کارل مـــارکس، لـــينن، ډاروي ـــن، ژان ژاک،ماو،تولســتوي،دانته او شيکســپير د ايــډيالونو په توګه نه وو غوره کړي.

ومانقموا منهم إلا أن يؤمنوا بالله العزيز الحميد الذی لـه ملـك السـماوات والأرض والله عـلى كـل شيء شهيد

شـهيد ريـان ولاء او بـراء بانـدي بـاور درلـود او داسلامي عقيدې دهمدې ارزښتونو په رعايت سره يې دژوند تګلوری ټاکلی و.

شـهيد ريـان پـه تنکـي ځـوانۍ کـي د پيـاوړي استعداد،پاخه فکر او عميـق نظر ځښـتن و،د غـرب د

فکري او فرهنگي يرغل په څپانده طوفان کي يې سيده لاره ورکه نه کړه او تر شهادته خپلو ديني او وطني ګټو ته ژمن پاته شو.

شهيد ريان د ځوان کهول برلاسی مورخ و، ليکوال او تکړه ژباړن و،په تنکۍ ځوانۍ کي يې افغان تاريخ،ادب او فرهنګ ته دومره کار وکړ چي ډير د پاخه عمر ليکوال يې له ترسره کولو عاجز دي.

شهيد بشير احمد ريان د افغانستان د پاچاهانو لنډ تاريخ بار بار چاپ شوي کتاب څخه پرته تر لس ډيرعلمي،تاريخي،ديني او ادبي اثار ليکلي او ژباړلي دي.

د ډيموکراسۍ جنرالانو او عسکرو د ځوان مورخ،ليکوال،مترجم اومحصل(ځوانيمرګ ريان) وجود دځان لپاره خطر وګاڼه او دعلم،ادب او تاريخ دغه تاند نهال يې چي ثمر ته رسيدلی و خزان کړ.

زموږ باور دی چي ستر څښتن به د شهيد ريان په څېر د زرهاوو مظلومو انسانانو انتقام دډيموکراسۍ له ډبر زړو جنرالانو او وسله والو څخه اخلي.

والله عزيز ذوانتقام

د حق د لاري دشهيدانو کاروان اوږده مخينه لري،شهيد ريان به ددې قافلې ورستی شهيد نه وي،تر دې وروسته به هم دحق پلويان خپلي سپېڅلې مبارزې ته دوام ورکوي،دې پاکه لار کي به خولې تويوي،ستړياوي به ګالي،مالونه به مصرفوي او خپل سرونه به نذرانه کوي،هو! غليم دي د زړه په غوږو واروي چي دحق دلاري لارويان د شهادت سره دومره مينه لري لکه تاسي چي دفاني دنيا ګۍ له ذليل ژوند سره.

ای د باطل چوپړمارو! تاسي که دحق د لاري د پيروانو هر څومره ويني وبهيوئ،خو پام مو وي چي ددوی د هر څاڅکي ويني څخه دحق دفاع کونکي داسي ارواګاني پيداکيږي چي دواټيکان او پنټاګان کرايه شوي ټوپکمارو ته به په هيڅ قيمت اجازه ور نه کړي چي دافغان پر پاکه خاوره د باطل جنډه لکه کړي.

داسمه ده چي دحق دلاري شهيدان له فاني دنيا سره مخه ښه کوي،خو دآب حيات جامونه پر سر اړوي او له دې وروسته ابدي ژوند پيلوي.

وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ

د شهيد بشير احمد ريان والد صاحب جهادي او علمي شخصيت،نوميالي ليکوال،څيړونکي او مترجم استاد انجنير عبدالله ګل ريان صاحب او د شهيد ريان مشر- ورور ډاکټر عبدالواحد ريان صاحب، وروڼو، قريبانو، دوستانو او دحق د لاري لارويانو ته د شهيد ريان د شهادت تسليت وړاندي کوم.ستر څښتن دي شهيد ريان ته جنت الفردوس،کورنۍ او ټولو خواخوږ ته صبر جميل او اجر عظيم ورکړي. امين

و بشر الصابرين الذين اذا اصابتهم مصيبه قالو انا لله و انا اليه راجعون

د شهید نعمت اکا زوند ته لنډه کتنه

باهر هتپال

دا خبره جوته ده ،چې د نړۍ پر مخ هره ټولنه کې)د نوموړې ټولنې په عقیده او اصطلاح(ویاړمن او مفاخر شخصیتونه شتون لري، چې په بیلابیلو برخو کې یې په خانګړو کارنامو ویاړ او شهرت تر لاسه کړی وي. زمونږ افغاني ټولنه کې هم ډېر نامي او درانه شخصیتونه شتون لري، چې ځینې که څه هم له فاني نړۍ فنا او کوچیدلي؛ خو د تاندو او لوړ فکر لرنکیو لیکوالانو د خپل تاریخ ساتونکیو قلمونو پر مټ د هغوی یادونه د تل له پاره ژوندي او ځلیدلي ساتلي، تر څو کشر ځوان کهول، په فکري او عملي ژوند تیرولو کې د سپینې هینداري او زړه سوانده استاذ په توګه ترې کار واخلي، او د نوموړیو په حسنه اسوه ځانونه مزین او متدین کړي؛ خو له بده مرغه ډیریې یوازې ملغلرې د سمندر په تل کې، صدفي قالب کې بندې پاتې شوي او د لیکوالې لامبوزنو ته په لاس نه دي ورغلې، تر څو یې وچې نړۍ ته را ویستلي او نړۍ یې پرې روښانه کړې وای. په همدې خاطر په لیکنه کې داسې څوک در پیژنم، چا چې له پنځه لس کلنۍ بیا تر پنځه څلوېښت کلنۍ پورې د جهاد سپیځلې فریضه په خورا اخلاص مندۍ سرته ورسوله، هغه څوک چې ورور یې شهید کړای شو، پر ځای یې دی سنګر ته را و وت، د ورور شهادت یې زړه مات نکړ، وېر او ګوښه توب یې غوره نکړ؛ بلکې د غیرتي او با إحساسه مجاهد په ځېر یې خپله تنکۍ ځواني د سنګر خړو ګردو ته وقف کړه، هغه څوک یادوم چې تل یې د بل خوښې او هوساینه له خپل ځان ځخه ړومبي بلله، داسې مجاهد چې پر سپینه ږیره یې خپل مورچل کلک ساتلی و، هوکې! داسې مجاهد در پیژنم چې له یوه خوا دلوګر ولایت میسې عینک سیمه کې د حاجي ملاقاضي په نوم زړور قومندان د اتل پر لقب نازولی، له بلې خوا د خوست مجاهدین د نوموړې پر جرأت، شهامت، تهور، سپیځلې مبارزې او عاجزۍ ویاړي. که له یوه پلوه د ننګرهار ولایت د ګوشتې ولسوالۍ زیاتې پوستې پوره توګه تر خپلې ولکې راولي، له بله پلوه په کاپیسا ولایت کې د مجاهدینو خط له شکست ځخه ژغوري. ځنګه یې چې دکمونیزم په خلاف جهاد فرض عین ګانه، کټ مټ ورته عقیده یې له غربي زورواکګرو سره نه یواځې فکراً بلکې عملاً لرله... هوکې!! ستر مبارز مجاهد، د لوړ فکر او محکم عزم ځښتن، عاجز خو هیبتناکه ځېره لرونکی شخصیت اتل قهرمان شهید (نعمت اکا) (محبوب) در یادوم، چې د جهاد مینه یې په خټه کې اخښل شوې وه، په خپل قوم او کلي کې یې داسې انقلاب او پاخون را

پورته کړ، چې د کلونو_کلونو ویده فکرونه یې را وخوځول او د بري د معراج لاره یې ور په ګوته کړه. چو خواهی که نامت بود درجهان مکن نام نیک بزرگان نهان

(پیدایښت اولنۍ پیژندنه) د اسلامي امارت وتلې سنګین شخصیت، د اسلام په لاره کې سرسپارلی مجاهد شهید نعمت اکا(محبوب) چې ملګریوته د ریښتوني محبوبیت له املې یې د "محبوب" توري لقب ترلاسه کړی و، د لوګر ولایت د مرکز اړوند د الوزیو د سیمې اوسیدونکی او په کال (۱۳۴۷ ل) کې د حاجي سرور مرحوم په کاله کې فاني نړۍ ته سترګې غړولې وي، نوموړي په دولس کلنۍ کې د جومات له ملاامام څخه زده کړې پیل کړې. دزده کړو لړۍ یې د قرآن شریف ترختمه ورسوله، دامهال دروسانو دیرغل دوه کاله تېر شوي وو، غیورو افغانانو دکمونېزم پرخلاف جهادي پاڅون وکړ په کال (۱۳۶۲ ل) کې دنومړي ورور میراحمد چې منلی شوی مجرب قومندان و، په شهادت ورسید اوپر ځای یې سر ښندنې ته لیوالۍ تنکۍ ځوان نعمت اکا خپل پنځه لسم پسرلی دجهادي بهیر دپیل لپاره د سپځلي مبارزې سپیځلی باب کیښود.)د کمونیزم پر خلاف مبارزه(کله چې په کال)۱۳۵۸ ل/۱۹۷۹ م(د جدي پر شپږمه د روسانو ګوډاګی ببرک کارمل واک ته ورسول شو، سرې لښکرې د امو له دریابه د دیسمبر په)۲۵(د افغانستان غیرتي او ازادي خاورې ته ننوتلې، نیږدې دوه نیم میلونه افغانان له روسانو سره په جګړه کې شهیدان او نیږدې یو میلون افغانان معیوب شول، د شهیدانو په نوم لړ کې د نعمت اکا ورور هم و، چې له شهادت سره سم په کال)۱۳۶۲ ل(نعمت اکا خپل شهامت او جهادي مینې پرینښود چې پر کور کښیني همدا وه چې نوموړي د کمونیزم پر خلاف مبارزه پیل کړه، لوګر، ننګرهار، خوست او کاپیسا په شمول ګنو ولایتونو کې یې جهادي دندې تر سره کړې، د لوی الله جل جلاله په فضل او د ځوریدلي ولس په کمساري سرښندنې، سرو لښکرو ماته وخوړه، د کمونیست نجیب په خلاف چې د افغان شوروي وروستی چارواکی و، او نیږدې پنځه کالونه په واک کې پاتې شو، نعمت اکا تر پایه نه سترې کیدونکي غزا، روانه وساتله، او بیا هغه وه چې د مجاهدینو د خپلمنځي ناسمو رقابتونو له املې کورنۍ جګړه پیل شوه، نوموړي له فتنې څخه د ځان ساتنې په پاره ګوښه او خپل د هجرت دیار، پاکستان ته ستون شو.

(د طالبانو له اسلامي امارت سره اړیکه(کله چې په کال)۱۹۹۴ م) د سپتمبر په میاشت کې، مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) د پاڅکونو د ایسته کولو او د فساد د ورکولو عزم وکړ او د طالبانو د تحریک پیلامه یې کیښودله، دا مهال نعمت اکا د لوګر ولایت میسي عینک سیمې د یوه قومندان حاجي ملاقاضي تر مشرۍ لاندې جهادي خدماتو ته دوام ور کړ، ګڼې پوستې یې فتحه او د خپلې سیمې پاڅکونه یې له منځه یوړل، د زرداد او وزیر پر قلعه و، یې سخت بریدونه وکړل او د وزیر قلعه د پوستې نیولو څخه وروسته زخمي شو، خو الله جل جلاله روغتیا ور په برخه کړه او له جوړښت سره سم یې جهادي فریضه یو ځل بیا پیل کړه.)د امریکایانو او دهغوی د غلامانو په خلاف

مبارزه(۲۰۰۱ میلادي کال له کابل څخه د طالبانو له وتلو او د غرب د وحشي امریکایانو له اشغال څخه وروسته څه وخت نعمت اکا پاکستان کې تم شو، له موقعې څخه په استفاده، د مولوي عبدالله حسیني په مشرۍ یې یو ځل بیا جهادي ډګر ګرم کړ، په قوم کې یې محبوبیت پیدا کړ، زاړه جهادي ملګري یې را بیدار کړل، د جهادي فریضې په ښه ډول اجراء کولو له امله قومي مشرانو او علماؤ نومورې اړ کړ چې د الوزیو د قوم د مجاهدینو مشرۍ په غاړه واخلي، له بیا_بیا معذرت ویلو سره هم و نه توانید چې انکار وکړي، مسؤلیت یې ومانه خو په دې شرط چې د علماوو مشورې او لارښونې به ورسره ملې وي، ۲۰۰۷ م کال کې د اسلامي امارت له خوا رسمي ډلګۍ ورکړل شوه، د ملګرو له قوله: د نومورې په مشرۍ کې ۱۳۰ کمینونه)چې په خپله به له هشتادو ۸۲ او کلکوپ سره، له ملګرو وړاندي کمین کې کښیناستی(تر سره کړي دي، چې په ترڅ کې یې ګڼ ټانګونه، رینجري تخریب کړي او له منځه وړي دي، لسګونه کورني او بهرني دښمنان یې قتل او ژوبل کړي.)د شخصیت په اړه(شهید نعمت اکا نه یواځې دا چې خپل مسؤلیتونه یې په پوره مهارت سر ته رسول او د کړاوونو ریږونو پر وړاندي یې سینه سپر ګرځولې وه؛ بلکې له لاس لاندي مجاهدین یې هم خپلو مسؤلیتونو ته بیدار او د کړاوونو پر وړاندي محکمې ثباتې ته هڅول، پر ناخوالو برداشت، زړورتیا او په ځانګړي توګه عاجزي یې د ستاینې وړ دي، له اختلافاتو او تفریق پالنې څخه یې کرکه کوله، سنګر یې د ملګریو له پاره د شفقت او مهربانۍ روزنیزه زانګو وه. شهید نعمت اکا د سپیځلې جهادي مبارزې لپاره پر ایماني اعداد او تجهیز پوښلی شخص و، جهاد یې د کومې ځانګړې رتبې او څوکۍ لپاره نه کاوو؛ بلکې د جهاد پر فرضیت معتقد او د الله جل جلاله لو لوري یې پر مسلمانانو فرض شوی شرعي عبادت ګانه، د لوی او ځواکمن ځښتن الله تعالی د دې معنوي امر ممتثل وو)کتب علیکم القتال...(له جهاد څخه یې هدف د الله ج رضا، إعلاء کلمة الله، د شرعي أحکامو نفاذ او د کافرانو د ظلم او تجاوز څخه د مسلمانانو خوندي ساتل وو، ممتثلاً لقوله تعالی:)وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة ویکون الدین کله لله(الأنفال/۳۹ تفسیر: له کفارو سره وجنګیږئ چې فتنه)شرک(پاتې نشي او یواځې د الله جل جلاله دین حاکم شي.

دجرأت او شهامت لرونکی شهید نعمت اکا د اسلامي امارت له هغو سر سپارلیو، کفر لړزونکیو، او محکم عزم لرونکیو مجاهدینو څخه، یو په تقوا پوښلی ، شجاع شخص وو، چې یواځې د نومورې په نوم اوریدو سره به پر دښمن د ویرې خپسه کښیناستله، ښه مې په یاد دي چې: یوه شپه شهید نعمت اکا او ملګریو په کمین کې د دښمن لار څارله، سهار مهال د بهرنیو کاروان تیریدی، چې نعمت اکا د تکبیر په بدرګه د هشتاد دو ۸۲ ګزار وکړ، ملګریو پر دښمن د کابل لویه لاره سور اور کړه، د بهرنیو چیغې او ترهیدلې ناړې مو اوریدې، یو مهال کورني غلامان)اربکیان(هم د بهرنیو د دفاع له پاره د مجاهدینو پر وړاندي خندې شول، نعمت اکا پر نور ملګرو چې یواځې اربکیانو ته یې چمتو کښینولي و، غږ کړ، چې ورسره سم یې اربکیان داسې توی کړل، لکه د غنمو وړي چې ضربه شي، دا چې اربکیانو ته

سخت مالي او ځاني تلفات اوښتي و، د لسو بجو پر مهال اربکي قومندان د الوزیو په کلي د هاوانونو برید پیل کړ، نعمت اکا چې ټوله شپه په ویښه د دښمن مقابله کې رنه کړې وه، د چنارو لاندي پټیو کې ویده شوی و، د هاوان له رندو ګوزارونو نه کلیوال زښتزیات تنګ شول، او اړ شول چې نعمت اکا را بیدار کړي، د عمر تر پایه به مې له یاده و نه وځي، چې د ګران مشرسترګي له خوبه ډکې وي، چې شهید سباوون ته یې امر وکړ، تر څو د نومورې هشتاد دو رواړي، شهید سباوون چې، د عمر زیاته برخه یې نومورې سره ځنګ په ځنګ سنګر کې تېره کړې وه، نعمت اکا سره غبرګ د دښمن پر لور روان شو، د دوی لیدو سره سم دښمن پښې سپکې کړې، او کلیوال په ارام شول، په کراتو او مراتو دښمن له لورې خبرونه را تلل چې: نعمت اکا مو دې عذر ومنې، په مونږ دې کار نه لرې، مونږ به د نومورې له لاس لاندې ساحې ته نه ورځو، د نعمت اکا ځواب به هر ځل همدا وو: ټوپګ کیږئ! کنه وژل کیږئ به.

(عاجزي او له ځان خوښوني کرکه :(د شهید نعمت اکا پر عاجزۍ ګرد هغه وګړي ،چې نومورې سره یې لیده او کاته شوي، په یوه خوله د نومورې پر نفسي انکسار او عاجزۍ معترف او قائل وو، همدا لامل و، چې تل به په کړنو کې بریالی او پر مخالفینو برلاسی وو، تفسیر ابن کثیر کې مې لوستي و، نقل کړي یې و، چې (احد غزا ته د صحابه و، د إعداد او تدریب پر مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم و ویل: "هغه جنت ته ځانونه چمتو کاندئ! د کوم چې پلنوالی او اوږدوالی د ځمکې او اسمانونو برابر دی"او بیا یې لاسونه پورته کړل و یې ویل: أللهم إن تهزم هذه العصابة فلن تعبد في الأرض بعد هذا اليوم...) څښتنه! که دا ټولی مات کړي بیا به هیڅوک د ځمکې پر مخ ستا عبادت و نکړي. هماغه وه، چې الله جل جلاله د دوی د عجز او إنکسار په بدل کې داسي تاریخي او ستره فتحه ور په برخه کړه، چې ساری یې نه لیدل شوی او نه به ولیدل شي.

تأثر او خاطرات : له علماوو او طالبانو سره مینه... شپه مې په یاد دي چې: مونږ څو نفره ملایان د ټاکلي او لنډ وخت له پاره لوګر د نعمت اکا ډلګۍ ته دې لپاره ولاړو، تر څو د نعمت اکا په مشرۍ څو ګرم کمینونه تر سره کړو؛ ځکه چې نعمت اکا په کمین وهلو کې زښت زیات شهرت درلود، تر دې چې ملګرو کې به کله هم د نعمت اکا نوم یاد شو، ملګرو به ویل چې ذهن ته مو جوخت د نومورې له نوم سره د کمین نوم هم راځي ،یعني د اکا او کمین تر منځ دوی تلازم ګانه، لنډه دا چې څو ورځو)غالباً درې ورځو(کې مو دوه کمینونه و وهل، چې یو یې د

شپې او بلې يې د ورځې پر مهال وو، ځلورمه ورځ چې مې د پلارجان له خوا ځنګ راغی او خورا اړين کار يې را په ګوته کړ، تر دې اړ شوم چې له خپل مشر-نعمت اکا څخه د بيرته ستنيدو اجازه وغواړم، همدا وه چې زه او يو بل عالم ملګری د رخصتی لپاره ورغلو، ځرنګه چې د نعمت اکا خوی او عادت و، چې تل به مجهز او له کورونو ليرې پټيو کې کله يو ځای او کله بل ځای له څو محدودو ملګرو سره د ورځې او شپې ناسته پاسته کوله، نورو ملګريو ته به يې هم توصيه کوله او ويل به يې: "که غواړئ دښمن مات کړئ، کلکه مقابله يې وکړای شئ او عام ولس مو له کړاوونو، ځاني او مالي تلفاتو څخه ژغورلی وي، نو له کورونو ليرې پټيو کې جهادي ژوند غوره کړئ!" له رسيدو سره سم، ملګری مې وهڅاوه، تر څو يې اجازه وغوښته، پوهيږئ نعمت اکا څه و ويل؟ هوکې! نعمت اکا اجازه را نکړه ،خو ناهيلي يې هم نکړو ، په خورا نرمه او سنګينه لهجه يې کړه: مولوي صاحبانو! تاسي پوهيږئ چې زه ولې اجازه نه درکوم؟ لامل يې دادی چې: تاسي عالمان زما لپاره دلته له ماسره له ټولې نړۍ غوره او زما دزړه سکون ياستئ، تاسي دوه نفره عالمان له زرو عاميانو ماته ډېر خوښ او محبوب ياستئ، پر تاسو زه ډاډه ياستم، تاسې چې زه وينم زه احساسوم چې زه يواځې د سنګر په ډګر کې نه؛ بلکې يوه متدينه، مهذبه او خورا مربيانه جهادي مدرسه کې د ژوند شپې لنډوم، تاسي پوهيږئ؟ پرتاسو عالمانو زما زړه ژوندی وي او يو ډول احساس چې زه يې نشم تعبيرولی حس کوم او... مونږ هم په درنه او احترام کړل: اکا! حقيقت دی چې د "اکا" توري حقدار ياستئ، واقعيت دی چې په مشرۍ ارزئ، مشران دې وي او ستاسو په څېر دې وي، درې کاله تېر دي؛ خو د نوموړي د څو دقيقو خو ارزښتمن، ګټور او درس ورکونکی مجلس مې ټکي په ټکي په زور او زير په ياد دی، ريښتيا چې له کچې وتلي خواږه اوترخه دواړه له يادې نه وځي.

شهادت...: د نړۍ پر مخ هر ساکنې چې نړۍ ته ژوند کولو له پاره راځي دا په حقيقت کې د يوې بلې دائمي نړۍ مسافر دي، چې د سفر موده يې هغه عمر دی کوم چې په تقدير کې ورته کښل شوی او د سفر له پاره يې بيلا_بيل پراوونه)چې ورځ او شپه يې بولو(ټاکلي دي، هره ورځ او شپه يې ځانګړی پراو دی چې په وهلو سره يې سفر پای ته رسيږي؛ خو هوښيار هغوی دي چې هر پراو د دائمي ژوند د سمون او د شرعي هدف د ترلاسه کولو له پاره يواځنۍ لاره وګڼي،ژوند يې تر هغه په مخ ووړ تر څو ۲۰۱۴ ميلادي کال د جنوري په ۲۱ نيټه خپل سپيڅلی وجود يې په سپيڅلي لاره کې ټوټه_ټوټه کړ، امريکايي يرغلګرو ځواکونو د کورنيو عسکرو او سپيشل فورس په ملتيا د شپنې چاپې په مټ د لوګر ولايت د مرکز اړوند بابوس سيمې سره نيږدي پر نوموړي چاپه و وهله چې په ترڅ کې يې قومندان نعمت اکا له څو ملګريو سره، وروسته له زيات مقاومت څخه په شهادت ورسول شول. رحمه الله.

داسلامي دعوت پېژندنه او ارزښت

دعوت د بلنې په معنى دى ،چې البته دلغت لـه نظره په هرې بلنى باندې ددعوت اطلاق كيـږي، كـه هغه روا وې او كه نا روا، حسي كار ته دعوت وي لكه د وليمې (دواده خوراک) او داسې نور.

يـا معنـوي كـارونو تـه بلنـه وي لكـه علمـي سيمينار ته بلنه اوكه نورو شيانو ته وي.

داسلامي دعوت پېژندنه:

زمـونږ مقصـد داسـلامى دعـوت پېژندنـه ده. نو اسلامى دعوت په دې دول تعريفوو:

داهل علمو له خوا پـه سـمه توګـه دمخاطـب دعقلي مستوى په نظر كې نيولو سره سم دالله تعالى د رالېږلي دين رسولوته اسلامي دعوت ويل كيږي.

دا چې دعوت مو په لغوي او اصـطلاحي توګـه وپيژاند اوس راځو د دعوت اهميت او ارزښت ته .

داسلامي دعوت اهميت دلاندې بندونو په نظر كې نيولو سره نبه درک كولاى شو

چـې الله تعـالى پـه هـر ارخېـزه توګـه دهغـه دارزښت يادونه كړې ده:

لمړى: دالله(جل جلاله) له خوا په دغـه دعـوت باندى تركيز:

الله(جل جلاله) فرمايى : ادع الى سبيل ربـک بـا الحكمة والموعظة الحسنة و جادلهم بالتى هى احسن ان ربک هو اعلم بمـن ضـل عـن سـبيله وهـو اعلـم بالمهتدين.(النحل ١٢٥اية).

ژباړه: بلنه كوه! لارى د رب خپل ته په (حكمـت سره)اوجواب وركوه، ددوى دخبرو په هغـه طريقـې سره چې شايسته وي، يقينا ستا رب نبه پوه دى، پـه هغه چا چې واوړي د لارې دهغه نه او هغه نبه پـوه دى په هدايت والاوو.

په بل ځاى كې الله(جل جلاله) ددعوت خبره تـر تولو خبرو غوره او بهتره ښودلى او فرمايى چه:ومن احسن قولا ممن دعا الى الله و عمل صالحا وقال اننـى من المسلمين(حم السجده ايت ٣٣)

ژباړه: او څوک ډير شايسته دى په وينـا كولـو كى دهغه چا څخه چه دعوت كوى الله(جل جلاله) ته او عمل كوى نيک (په اخلاص او دسنتو سره برابر)او وايې چې يقينا زه د مسلمانانو د ډلى څخه يم .

دلته الله(جل جلاله) خلورو ټكو ته واضـحه اشاره كړې :

الف:ددعوتي خبرې غوره والى اوبهترې.

ب: بلنه بايد د الله(جل جلاله) دحكمونو خواتـه وي

ج: دعوت كوونكى (بلونكى) بايـد دنيـک عمـل خاوند وى يعنى هغه څه ته چې خلک ورته را بلى پـه

هغه باید خپله هم عامل وي او قدوه اوسي او په اخلاص سره وي او دسنتو موافق وي.

د: دخپل دعوت انګیزه هم بیان کړي، چه زه مسلمان یم یعني زما مسلماني ما هڅوي چه دعوت وکړم او اجوره یې الله(جل جلاله) څخه غواړم.

همدارنګه الله(جل جلاله) هغه چاته چې ددعوت کار مخ ته بیایي دفلاح)بریالیتوب) نسبت کړی، چه فرمایی :ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر ویأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر وأولئک هم المفلحون (ال عمران ۱۰۴ایت)

ژباړه:او وي دې له تاسې نه یوه ډله چه دعوت کوي خیر طرف ته او حکم کوي دنیکۍ او منع کوي دبدۍ څخه او دغه کسان خاص دوی فلاح موندونکی دی.

ددې آیت پسې دځو معترضو جملو څخه وروسته بیا د همدې سورت په (۱۱۰)ایت کې ددې امت دغوره والی سبب او لامل دعوت ګڼي او فرمایي چې:

کنتم خیر امة اخرجت للناس تأمرون بالمعروف و تنهون عن المنکر وتؤمنون با لله الایة (ال عمران ایت ۱۱۰)

ژباړه: وی تاسو (همیشه به یی)غوره امت راویستلې شوې یې دخلکو لپاره امر به کوئ په نیکۍ او منع به کوئ له بدۍ او ایمان به لرئ په الله (جل جلاله)

همدارنګه نبوی احادیث او لارښوونې هم ددعوت په اهمیت باندې ټینګار کوي، یوه ورځ نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) حضرت علی کرم الله وجهه ته وویل (لأن یهدیک الله بک رجلا واحدا خیر لک من حمر النعم)

ژباړه: که یوه کس ته الله (جل جلاله)د ستا په ذریعه هدایت وکړي (داکار)تاته دسرو اوښانو څخه غوره دی.

په بل ځای کی نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) دعوت کوونکی ته دعا کړی ده چې دحدیث مفهوم داسی دی:

الله(جل جلاله) دی تر او تازه لري، هغه سړی چه زما خبره واوري او بیایې هماغسې بل ته ورسوي .

حضرت علی رض ته نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ددعوت په ذریعه دیوه تن هدایت د سرو اوښانو څخه چې هغه وخت دعربو لپاره له ډیر قیمتی څیزونو څخه شمیرل کیدل ډیر ارزښتناک وګانه.

په همدی ډول درسول الله (صلی الله علیه وسلم) دعاء ددعوت کوونکی لپاره ددعوت ارزښت او اهمیت په ډاګه کوی.

لنډه دا چه مونږه ددعوت په ذریعه نیک او غوره امت ګڼل شوی یو او ددعوت خبره ترټولو نورو خبرو ښایسته ده او ددعوت په واسطه دیو چا هدایت موندل د دنیا د قیمتی مالونو څخه غوره ګڼل شوی.

نو بیا په داسی حال کی چه دانبیاؤ علیهم السلام سلسله ختمه شوې او دغه مسؤولیت دامت په غاړه پریوتی او له بلې خوا په اوسني وخت کې د جني او انسي شیطانانو باطل دعوتونه خلک له ګرنګونو غورځوي او دفحشاوو او نفسي خواهشاتو بازار یې ګرم کړی، چې پدې وخت کې دعوت ته وخت نه ورکوو نو کوم وخت ته انتظار باسو؟

دسعودي اوايران سياسي ستونزه ولې مذهبي شخړه کنې کېږي ترشايې څه اهداف دي؟

شهيد زوی

په سعودي کې شيعه ملا شيخ نمر النمر ته دمرګ سزا اوبيا په تهران اومشهدکې دسعودي پرسفارت اوقونسلګرۍ دايراني مظاهره چيانودحملې نه پس دسعودي عربستان او ايران ترمنځ ديپلوماتيکي اړيکې پرې شويدي اوبېخي د ۱۹۸۷م کال هغې پېښې ته ورته فضا رامنځته شويده کله چې دسعودي دولت په حرم شريف کې د۲۷۵ ايرانيانوپه شمول هغه ٤٠٢ شرخوبنې شيعه ګان ووژل کومو چې دسعودي پرکړنلارې داعتراض په موخه په حرم کې مظاهره کړی اوپه حرم قابض شوي وو؛ دسعودي ددې اقدام په مقابل کې ايرانيانوسخت غبرګون ښکاره کړی و ؛ په تهران کې يې دسعودي پرسفارت حمله کړی وه ؛ سفارت ته دسخت زيان اوښتوترڅنګ ايراني ځوانانو يوسعودي ديپلومات هم وژلی و چې په مقابل کې يې سعودي دخپلې خاورې نه دايران سفير ويستلی و او پدې توګه ددواړوهېوادونو ترمنځ د٤ کلونولپاره ديپلوماتيک روابط پرې شوي ول .

سره له دې چې دايران اوسعودي ترمنځ غوره مثالي روابط کله ندي تېر شوي خو په سعودي کې النمر ته دمرګ دسزا ورکول کېدونه پس دسعودي اوايران ترمنځ روابط دومره خراب شويدي چې شايد دومره به دتاريخ په اوږدو کې کله هم نه وو خراب .

ديوبل دغندلو اوژبنيزې شخړې نه خبره ديوبل پرضد دعملي اقداماتوترحده ورسېدله ؛ ددواړوهېوادونوترمنځ ديپلوماتيکې اړيکې پرې شوې ؛ نه يوائې ددې دواړو هېوادونو بلکې دسعودي حليفوهېوادونوقطر، کويت ،بحرين ،سودان اوجبوتي هم دايران سره خپلې ديپلوماتيکې اړيکې پرې کړيدي اوپه تهران کې يې دسعودي دسفارت سوځېدل په سختو تکوغندلي دي.

په ملګروملتونوکې دسعودي ځانګړي استازي عبدالله المعلومي ويلی دي چې دايران

سره زموږځه ازلي دښمني نشته ؛ دنورواوپه ځانګړي دول دعربوپه کورنوچاروکې لاسوهنې زموږ اوددوئ ترمنځ دروابطود خرابوالي لامل ګرځي ؛که ایران په خپلې کړنلارې کې بدلون راولي نوپه دېرې اسانۍ زموږروابط ښه کېدای شي.

ترکې دسعودي اوایران ترمنځ دمنځګړیتوب وړاندیځ وکړخودسختې ناهیلی سره هغه مهال مخامخ شوچې کله دایران یوشمېردولتي اونادولتي مشرانودشیخ نمردمرګ دسزا سره دترکې دولسمشرطیب اردګان دارتباط خبرې وکړې ؛ دترکې دولت دایران ددې څرګندونوپه مقابل کې سخت غبرګون ښکاره کړاودایران ددولت نه یې وغوښتل چې دداسې نامسئولانه څرګندونودمخنیوي لپاره دې کوتلي ګامونه پورته کړي .

بل لورته دایران دولت هڅې کوي چې ددواړوهېوادونودروابطودخرابوالي تولە پره پرسعودي ورواچوي ؛ دباندنیوچارودوزارت ویاندحسین جابرانصاري وویل چې دسعودي دولت غواړي چې په تهران کې یې پرسفارت حملە پلمه کړي اودایران سره روابطوخرابولوته لاربرابره کړي ؛ انصاري داهم وویل چې څو ورځې دمخه دسعودي جنګي طیارو دایران پرسفارت بمونه غورځولي دي چې پکې دسفارت څوکارکونکي ټپیان شوي هم دي خوسعودي ایران داتور ردکړیدی او ویلی یې دي چې ددې تورپه اړه به تحقیقات وکړي

همداراز ایران ته یارانودوستانوهم خپل اخلاص ښکاره کړیدی ؛ دعراق یوشمېرسیاسي څېړواونېږدې تولوشیعه مذهبي مشرانودسعودي دولت له لورې شیخ النمر ته دمرګ سزا ورکول سخت غندلي دي .

په لبنان کې دحز ب اللّه په نوم دشیعه ګانودملېشومشرحسن نصراللّه هم پدې اړه دخپل غم اوغصې اظهارکړیدی ؛ دااقدام یې په تولې نړۍ کې دشیعه ګانواوسنیانوترمنځ دخپلمنځي جنګ درامنځته کولوهڅه ګڼلی اوویلي یې دي چې دشیخ النمرمرګ به دیوم الحساب پورې دآل سعودلپاره دبربا دی لامل شي .

دا په داسې حال کې ده چې لا دمخه دا دواړه هېوادونه په یمن اوشام کې بالواسطه یوپربل ګوزارونه کوي اوددواړو ترمنځ پراکسي وارياپت جنګ روان دی .

دنړۍ مطبوعات لګیادي په سعودي کې النمرته دمرګ سزا اوپه ایران کې دسعودي پرسفارت حمله ،دا دواړه پېښې غټوي اوهڅې کوي چې ددواړو هېوادونوترمنځ دجنګ رامنځته کېدل حتمي کړي؛ اوسني حالات بیخي د۸۰ یمې کلیزې حالاتو ته ورته بولي ؛ هغه مهال دصدام دولت یوعراقي شیعه ملا محمدباقرالصدر په مرګ محکوم کړی وچې همداد۱۹۸۰ نه تر۱۹۸۸ پورې دعراق اوایران

ترمنځ دستروتاوانونونه د دک جنګ سبب ګرځېدلې واوددې جنګ په رامنځته کېدوکې نړیوالورسنیودېر ستررول اداکړی و؛ اوس هم چې په یوسني هېواد کې دسني دولت له لورې شیعه ملا په مرګ محکوم شویدی نړیوالو رسنیو ددې پېښې دزیات غټولواو ددې دوارو هېوادونوترمنځ د روابطودسخت خرابوالو اوپه نتیجه کې یې ددوارو هېوادونوترمنځ دجنګ رامنځته کولولپاره شپه او ورځ پرځان یوه کړیده ؛ ټولې هغه خبرې خپروي چې ددښمنۍ اوتعصباتودلازیاتېدا سبب کېدای شي اویوه داسې خبره هم نه خپروي چې دشخړې دکموالي اوددوارو هېوادونودقرب لامل کېدای شي .

ژوندۍ بېلګه یې داده چې دسعودي پرسفارت حمله دایران ولسمشر حسن روحاني په دېروسختوتکو غندلی وه خونړیوالورسنیودهغه دوینا دغه ټول تکي پرېښي وواودهغه دخبرویواځې هغه برخه یې راخستې وه کومه چې دسعودي دلاغصې اوددوارو هېوادونوترمنځ دلریوالي سبب کېدای شوه کابومیاشت وراندې چې دداعش دمقابلې لپاره دسعودي دولت ۳٤هېوادونواتحاداعلان کړنو نړیوالوشریرو رسنیو دې اتحاد ته دسني اتحادنوم ورکړحال داچې کابو۲۳ سني هېوادونه پدې اتحادکې بېخي شامل نه وو

مذهبي ،فرقه یزو ،ژبنو اوقومي تعصباتو ته هوا ورکول اوله دې لارې جنکي جنون رامنځته کول هغه حربه ده چې برتانې به په هغه سیموکې ترې کاراخستلوکومې به یې چې ترخپل استعمارلاندې راوستل غوښتل

نن په منځني ختیځ کې اسلام دښمن ټول ځواکونه دبرتانې دهمدې پخوانۍ حربې نه کاراخلي ؛ داسرائیلوترشاولاړ دي اوله دېرې مودې نه پدې هڅوکې دي چې په منځني ختیځ کې دشیعه اوسني فرقه یزې شخړې رامنځته کړي ؛ اجتماعي طاقت یې له منځه یوسي ؛ هېوادونه تجزیه کړي اودګریتراسرئیل (لوی اسرائیل) دنقشې دتطبیق ترڅنګ خپل ټول شوم اهداف پوره کړي .

په منځني ختیځ کې دآزادکردستان په نوم دیولاسپوڅي دولت رامنځته کول داسرائیلودېره ستره هیله وه ترڅوپکې ستره فوځي اډه جوړه ؛خپله دفاع باوري اوخپلې توسیع ورکولوته لاربرابره کړي .

په روغ اوباثباته منځني ختیځ کې داسرائیلودا ارمان هیڅکله پوره کېدونکی نه و خوپه عراق اوسوریې کې یې چې بې ساري ګډوډي رامنځته کړه نواوس یې تقریباً داهدف پوره کېدونکی ښکاري .

امریکابیا پدې کارکې ترټولوور اندې ده ؛ دخپلووسلودپلورلواوداسلامي هېوادونو داشغالولو لپاره لګیا ده همداحربه په کاراچوي

او دامریکاوسله جورونکي شرکتونه دنړیولورسنیونه ددې هدف دترلاسه کولولپاره دېرکار اخلي چې دایران اوسعودي اوسنی لانجې ته دشیعه ګانو اوسنیانودشخړې نوم ورکول همداحقیقت روښانه کوي .

امریکا، روسیه ،برتانیه ،چین ،فرانسه ،المان ،اوکراین ،نیدرلینډ، سویډن ،سویزرلینډ، اسرئیل اوترکیه دنړۍ هغه هېوادونه دي چې په نړۍ کې ترټولوزیاتې وسلې پلوري .

سعودي عربستان ،هند،متحده عرب امارات،عمان، سنګاپور،پاکستان ،عراق، آزربایجان،اندونیزیااوچین دلومړۍ کرښې په وسله پېرونکو هېوادونوکې شماردي .

په وسله پلورونکو یادو ټولو هېوادونو کې اسلامي هېوادیوائې ترکیه ده چې په درجه بندۍ کې یې مرتبه ترټولولاندې ده ؛ امریکاترټولو وراندې ده او هروسله جورونکی شرکت یې دبل ستروسله پلورونکي هېواد برابردی ؛ دامریکا همدا شرکتونه دوسله پېرونکوهېوادونو سیاستونه ترخپلو اغېزو لاندې راولي اوخپلووسلو ته دبازارپیداکولوپه موخه په نړۍ کې دمصنوعي جنګونود رامنځته کولولپاره پلانونه جوړوي.

درومبی کرښې په اخستونکو اوخرڅونکو دواړوهېوادونوکې چین داخل دی نوځکه یې پرسیاست دنورواغېزې نشته .

په نړۍ کې سعودي عربستان اوهندتربل هرچازیاتې وسلې پېري ؛کله چې دا دواړه هېوادونه دجنګ اراده ښکاره کوي یا عملاً په جنګ کې ښکېل کېږي نودسیمې نورهېوادونه هم دوسلواخستلوپه منده کې ځانونه ورشاملوي نوځکه داخبره ښې په ځای ده چې دنړیولورسنیوله لارې دامریکا وسله جورونکي شرکتونه ددې لپاره دېرې زیاتې هڅې کوي چې سعودي دایران سره په جنګ اخته کړي .

سره له دې چې امریکا له سعودي اوایران دواړونه دروانې ستونزې دختمولوغوښتنه کړیده خودامریکا نفاق هرچاته معلوم دی اوپدې هرڅوک پوهېږي چې دامریکاقول اوفعل تل دیوبل سره په تضاد کې وي.

موږ دامنو چې دسعودي اوایران ترمنځ سیاسي کشمکش شتون لري اوداهم یوحقیقت دی چې ددواړوترمنځ دا کشمکش نوی ندی

په ۸۰یمې لسیزې کې چې دایران اوعراق ترمنځ جنګ رامنځته شوي ونوپه هغه جنګ کې سعودي دعراق دېره مالي مرسته کړی وه اوخپل متحدین بحرین ، قطر،کویت اومتحده عرب امارات یې هم دعراق مرستې ته تشویق کړي وو؛ دریاض شاهي دولت سره دا وېره وه چې د۱۹۷۹م دخميني په لاس دایران دانقلاب دبریالیتوب نه پس به دخميني دفکرخپرېدا منځني ختیځ بې ثباته کړي ځکه چې خميني په خپلو ویناوو کې ددې خبرې اظهارکړی وچې دسیمې نه دشاهي اوسیکولردواړه قسمه

نظامونوختمول يې لويه هيله اوله مهمو مقاصدو څخه ده

په ۲۰۰۳م کې چې امریکا اوغربي متحدینویې پرعراق حمله وکړه اودصدام اداره رنګه شوه نوپه نتیجه کې یې دشیعه ګانوحکومت رامنځته شو؛ دامریکایانوپه لاس رامنځته شوې دعراق دا نوی اداره مطلقه ایران پلوی اداره وه .

ایران چې په سیمې خپله باداري غواړي دعراق په څېردمنځني ختیځ دې دتېلوصادرونکي اوپه مختلفو لحاظونوخورامهم عربي هېواد کې ورته دداسې اداري راتلل خورا مهم ونوځکه یې ددې اداري نه خپل پوره ملاتړښکاره کړ.

په عراق کې دصدام داداري رنګېدل اودمطلقې ایران پلوې اداري رامنځته کېدل پرسعودي پټ خوستر ګوزار ونوځکه یې دایران سره روابط مخ په خرابېدو شول .

بیاچې کله د۲۰۰۷م کال په جنورۍ کې دایران داتومي پروګرام نه پرده پورته اونړۍ ترې خبره شوه نودادسعودي اوایران دروابطودخرابېدوبل سترسبب شو؛ ایران که څه هم تل دا ویل چې دیورانیمودغني کولو پروګرام یې دسوله یزومقاصدولپاره دی خودغربي نړۍ په څېرسعودي هم په ایران بې باوري ښکاره کوله اوویل یې چې ایران ځان اتومي ځواک جوړول اوپدې طریقې په سیمې کې خپله برلاسي غواړي .

دعربو دبهارپه نوم چې دعربي نړۍ په دېروهېوادونوکې دخپلو دولتونوپرضد ولسونوپاڅونونه وکړل نودالړۍ تربحرینه هم راورسېدله اوپه دې هېواد کې هم دمظاهروسلسله پیل شوه ؛ په بحرین کې دامظاهرې دسعودي لپاره ځکه داندېښنې ور وې چې اکثریت یې دایران پلووشیعه ګانوو؛ سعودي دبحرین دولت نه ددفاع په موخه بحرین ته خپل فوځ ولېږلو؛ دسعودي فوځ دلاریون کونکو په ناکامولواودبحرین ددولت نه په فاع کولوکامیاب شو چې ورسره داخبره ثابته شوه چې په سیمې کې دایران اوسعودي ترمنځ اختلافات تردېره حده جوړدي اوهریودبل دلاندې کولو لپاره په لوړه سطحه ګامونوپورته کولوته هم تیارېږي همدارازدتېر۲۰۱۵م کال دمارچ په اواخروکې سعودي اواتحادیانویې یوعسکري اتحاد جوړکړاوپه یمن کې یې په ایران پلوو اودایران دحمایت نه پربرخمنوهغوحوثیانو هوایې بریدونه پیل کړل کومو چې ددولت پرضد دپاڅون په پایله کې دیمن دولت رانسکور کړ اودپلازمېنې په شمول دهېوادپه دېرو سیمو قابض شول ؛ پرحوثیانو دسعودي بمبار ورو ،ورودایران اوسعودي ترمنځ په پراکسي وار((خفیه جنګ)) بدل شواو داسې پېښې هم ثبت شوې چې پکې نېغ په نېغه دسعودي اوایران فوځیان دیوبل سره مخامخ جنګېدلي دي .



نـو ددواړو هېوادونـو ترمنځ دسیاسي کشمکش له شتون نه انکارنشته خـو موږدا وایوچې ورته بایـد د سیاسـي کشـمکش پـه نظروکتـل شـي ؛ مـذهبي جنـګ دې ورتـه نـه ویـل کېږي.

خـوداچې لویدیځـه نـړۍ اواسـرائیل د نړیوالـو رسـنیو لـه لارې دېتـه دمـذهبي کشمکش رنګ ورکوي نوپکې یې هغه مـذموم اهـداف نغښـتي دي دکومونـه مـوچې دمخـه یادونه وکړه .

دلویدیځ دخپلـو موخوسـره کـاروي اوچـې له هرې لارې بې حاصـلولای شـي مـخ تـرې نـه اړوي خوخطرناکه خبره داده چې داسلامي نړۍ زیاتره رسنۍ اودرسنیو سره تړاولرونکـي خلـک دشخصي ګټوپه هدف اوپـه مسلک کـې درونـد کـون تعصـب لـه املـه دېـرې نامسـئولانه څرګندونې کـوي اودې سـتونزې تـه دمـذهب اومسلک دجنګ په نظرګوري .

یوه مهمه پوښتنه داده چې پدې حساس وخت کې سعودي دا اقـدام ولـې وکـړ؟ دداسـې شـیعه مـلا دوژلوځـه اړتیـا وه چـې دومـره ستونزې یې رامنځته کړې ؟

دېرخلک دافکر کـوي چـې داکـوم تصـادف نه و او نه دسعودي مشران دومره ناپوهان دي چې ددې دپایلوپه اړه به یې ګیني فکرنه کـاوه اوپدې به نه پوهېدل چې ددداسـې اقـدام پـایلې به څه وي ؟ سعودي پدې هرڅه ښه پوهېدلو؛دهمـدې پـایلو تمـه یـې لرلـه اودهمدې غوښتونکی و.

اصـل خبـره داده چـې سـعودي پـه سـیمې کـې دامریکـامهم اتحـادي ګنـل کېږي سـعودي غوښتل چې په شام کې دبشارالاسداوپه یمـن کـې دحوثیانونـه پـه حمایـت کولـودې لویـدیځ اوپه سرکې یـې امریکـا ایـران تـه سـزا ورکـړي یادې لړترلړه دومـره فشارورباندې راولـې چـې دبشارالاسـد اوحوثیانودحمایـت نـه لاس پـه سرشي خوچې دسعودي دې یـوې غوښـتنې تـه هـم امریکـا اونـور لویـدیځ نـه یـواځې داچـې التفـات ونکړبلکـې بـرعکس دایـران اولویـدیځ روابـط دیـوې نـه بلـې ورځـې تـه پـه ښـه کېدوشول نوسعودي دامریکـا اونورلویـدیځ نـه سخت ناهیلی شـو اوخپلـه تولـه توجـویې اوس عربي نړۍ ته راواړوله ؛ اوس ددې لپاره دېـرې زیـاتې هڅـې کـوي چـې دتـولې عربـي نـړۍ حمایت ځان ته راجلب اوپرځان یې راتوله کـړي

؛ النمرته دمرګ سزا ورکولوله لارې دایران سره دروابطوخرابول همداسې یوه سیاسي هڅه ښکاري اوسعودي غواړي چې له دې لارې دخپلوسني عربي اتحادیانولازیات حمایت راجلب اوپه کورکې دننه اختلافات له منځه یوسي چې دلندې مودې لپاره یې داهڅې ګټورې اواداکړنلاره بریالی ښکاري خو داوږدې مودې لپاره ځکه له تاوانونو ډکه ښکاري چې پدې سره به دلویدیځ هغه شوم پلان قوت ومومي دکوم له مخې چې غرب دشیعه اوسني په نوم دعربي نړۍ ویشل ؛ بیا ددواړوترمنځ دخونړوجنګونو رامنځته کول اوپه نتیجه کې دمنځني ختیځ هرهېواد تجزیه کول اوداسرائیلودشومواهدافوپوره کول غواړي.

ځه وایم چې که دسعودي اوسنوحالاتوته وګورونوددې پوښتنې اصل جواب به داوي چې سعودي به ددېرمجبوریت په عالم کې دا قدم پورته کړی وي ؛ شیخ نمرد۲۰۰۲م نه راپدېخوا دسعودي دولت په اجازه په قطیف کې دحضرت حسین په نوم دشیعه ګانوپه جومات کې دخطابت دنده ترسره کوله خوهغه چې دایران په مدرسوکې ۱۰کلونه تېرکړی وونوپه فکرکې یې تشددزیات واو د ایراني رژیم دسخت موقف اودسیمې په اړه دایراني سیاست سخت حامي و نوځکه یې لږه موده پس په خطابت کې دفرقه یزواومسلکي تعصباتورنګ رانبکاره شو چې له امله یې دسعودي اودسیمې نوروهېوادونوپه شیعه ګانوکې مشهوراوترډېره حده په شیعه ځوانانوکې مقبول شوچې همدې مقبولیت اوشهرت ده ته حوصله ورکړه اوپکې تشدد لاپسې زیات شو .

دولت هڅې وکړې چې هغه ددې کارنه منع کړي خونه یوائې داچې ددولت دې هڅونتیجه ورنکړه بلکې په ۲۰۰۹م کې هغه په سعودي کې دحقوقودترلاسه کولوپه موخه دشیعه ګانولپاره دمستقل دولت اودسعودي دتجزیې مطالبه پیل کړه او یوشمېر ځوانو پیروانو یې پر دولتي امنیتي ځواکونوبریدونه پیل کړل تردې چې پرامنیتي ځواکونو دیوبریدپرمهال پخپله النمرهم په سخت زخمي حالت کې ونیول شو.

دالنمردې کړنو چې دسعودي په ګومان هېوادد تجزیې دجدي ګوابښ سره مخامخ کړنودسعودي دولت دهغه دنیولواوبیاورته دمرګ دسزا ورکولو پربېکړه وکړه .

شیخ نمرهیڅکله هم پرده لګول شوي سیاسي تورونه ، نه ردول خوویل به یې چې ددولت پرضد د وسلې راپورته کولوپه نسبت د ولس حمایت زیات ګټوربولي ځکه چې دالفاظووسله دمرمیوورولونه زیات زور لري.

که غور وشي نوداخبره ښکې واضحه کېږي چې یوائې داخلي سیاسي عوامل ووچې له امله یې النمر په مرګ محکوم شو ځکه چې په نړۍ کې یودولت هم چاته دا اجازه نه ورکوي چې دهېواد دتجزیې هڅې دې وکړي

اوڅـوک چـې داسـې اعمـال ترسـره کـړي نودهرهېوادقانون يې ملـي غـدار اوخـائن ګڼي .

نـودا اوس دېـره عجيبـه خبـره ده چـې دسـعودي دولـت دې خپل تبعه دهېوادسره دخيانت په څېر ديوستر جرم له املـه قـانوني مجـرم ګڼي اوايـران دې داعمل غندي اودسعودي سره دې خپل روابـط خرابوي ؟!

په ايران کې چې ددولت له لـورې پـه دول دول پلمويې شمېره سترسترسـني علمـاء قتـل شول آيا ايران به دسنيانوکوم هېواد ته دايران ددې عمل دغندلواجازه ورکړي ؟

کـه چاتـه دا اجـازه نـه ورکـوي اودا دخپـل هېوادپـه کورنيوچاروکې مداخلـه ګڼـي نوبايـد دنورودخپلواکی اواستقلال احتـرام هـم وکـړي اودچاپه کورنيو چاروکې مداخله ونکړي.

نوددېروپه ګومان ددوارووهېوادونـوترمنځ دجنګ رامنځته کېدوخطرمخ پرزياتېدودی.

خـو زمـا پـه انـد خبـره داسـې نـده ؛ نـه دا دواړه پېښـې دومـره سـترې دي چـې دواړه هېوادونه دې دجنګ ترسرحده ورسـوي اونـه دا دواړه هېوادونـه داسـې دي چـې جنـګ کـې دې دځان لپاره خير ووينې اوپرې خوشاله دې شي ؛ دا دواړه هېوادونه دېر مشکلات لـري چـې دوئ پرې نښه پوهېږي .

داسمه ده چې دسعودي اقتصـاد دېـر نښـه دی اوجنګـې بوديجـه يـې هـم نښـه سـتره ده خويواځې په نښه اقتصاد جګونه نه ګټل کېږي اونه نښـه اقتصـادونه جنګونوتـه تينګېږي چـې امريکـا ،يـې ژونـدی بېلګـه ده ؛ بـل داچـې دسعودي فوځ دعملي جنګ هيڅ تجربه نه لري اونـه دځمکنـې جنـګ سـختئ زغمـلای شـي بياخصوصاً په داسې حال کې چې ديمن حـوثي باغيانوپرضـد دسـعودي بمبـار اودحوثيانولـه لورې دسعودي په سرحدي سيموحملې روانـې دي

بـل داچـې دسـعودي يـو مهـم اتحـادي پاکستان هم پدې مسئله کې دايران په مقابـل کې نېغ په نېغه دسعودي سره نشـي ودرېـدای ؛ايـــران د پاکســـتان ګاونـــدي دی او دادواړه هېوادونه په خپلوکې سره اوړده ګده پوله لـري نوځکه يې دمنځګړيتوب لاره خپلـه کړيـده چـې

داپخپل ذات کې ښه خبره ده خودسعودي لپاره ناهيلي کونکی ده .

داهم يوحقيقت دی چې دايران په موضوع کې سعودي دامريکا ددريځ نه ناراضه دی چې دسعودي ددولت يوعالي رتبه غړي خپل دانارضايت ښه په روښانه تکوښکاره کړيدی اوويلي يې دي چې ايران هرڅه کوي امريکا يې په مقابل کې هيڅ نه وايې اوپه پته خوله وروسته کېږي ؛مورږ ددې هيڅ پروانه لرو چې امريکا په څه غصه کېږي يا خفه کېږي ؛ داسمه ده چې مورږدسپيني مانی موقف ته دقدرپه نظرګوروخودخپلو ګټودتحفظ لپاره مورږ دتهران پرضدهر دول اقدام کولوته تيار يو .

نو په داسې حالت کې به دېره ګرانه وي چې سعودي دايران سره جنګ کولوته زړه ښه کړي .

دايران لپاره هم داجنګ له ځانه سره دېر تاوانونه اومشکلات لري نوښکاري داسې چې په هيڅ صورت به ورته زړه ښه نکړي ؛ دشمېر په لحاظ دايران فوځ دسعودي دفوځ نه زيات دی اودعملي جنګ تجربه هم لري خودسعودي فوځي بوديجه دايران دفوځي بوديجې په نسبت ۸ چنده زياته ده ؛ سعودي دامريکا اويوشمېر نوروغربي هېوادونونه په لوړه پيمانه پرمختللې وسلې اوجنګې طيارې پېرې.

ايران پوهېږي چې جنګ به يې اقتصاد ته دېرسترتاوانونه وروړي اودځاني دېرو تلفاتو سره به هم مخامخ شي ؛ ايران په مذهبي تعصب اودمذهبي تعصب پربنسټ دسيمې دهېوادونوپه داخلي چاروکې لا له وړاندې په لاس وهلوتورن دی ، که ديوملا په سردسعودي په ځېردهغه هېواد سره جنګ ته چمتوکېږي چې پکې دمسلمانانو ترټولومقدس مقامات دي نوپدې بدنامۍ کې به يې نورزياتوالی هم راشي اودنورې اسلامي نړۍ سره به يې فاصلې زياتې شي ؛ طبعي ده چې دايران به دې حقيقت ته پام وي .

په ۸۰ يمې لسيزې کې دعراق سره دجنګ ترخه تجربه هم دايران مخې ته ده ؛ هغه چنګ دايران لپاره خورابې ګټی خودتلفاتو نه دک جنګ و چې پکې دوژل شويوايراني فوځيانو او ولسي وګروشمېرد يوملیون نه اوښتی و خوايران دعراق نه په يوه لوښت ځمکې نيولوهم نه وتوانېدلی .

نوداسې جنګ اوشخړې چې دځان سره ددواړوهېوادونولپاره سترتاوانونه لري ؛په ټولې اسلامي نړۍ کې دجنګونو اوګډوديودخپرېدالامل ګرځي اوله بدواغېزويې يواسلامې هېواد هم خوندي نه پاتې کېږي امېد دی دداسې جنګ نه به دا دواړه هېوادونه ځانونه وساتي اوددښمن شوم پلانونه به عملي کېدوته پرېښږدي.

لطیف عزم

د اریکیانو ملاتړ او تمویل څوک کوي!!؟

پرون ، دننګرهار مزدوري اداري، یولړ نوي اریکیان په نوو اوجدیدو وسایلو او وسلو سنبال کړل او والي یې امید شکاره کړ، چې دغه نوي اریکیان به دامنیت په خوندیتوب او دارامی په راوستو کې زیاته مرسته وکړي.

دتیرو ۱۵ کلونو په اړدو کې په دې خبره دهر چا سر خلاص شو، چې اریکیان چا تمویل له کوم لوري تجهیز اودکومو موخو لپاره دپتمنو هیوادوالو کلیو اوباندو ته ورولیږدول شول اوداخبره هم هرچا ته واضحه شوه چې اریکیانوبیا دخلکو څه دول امنیت تامین او دهغود سراومال حفاظت وکړ .!!

یو امریکایي لیکوال (فرانکلن لامب) چې زیاتي لیکني داسلامي هیوادونو په مسایلو کوي ، په یوې تازه لیکني کې چې لوس انجلاس تایمس» کې خپره شوي وایی :

په افغانستان کې داعش او سیمه ییز پولیس یعني اریکیان دامریکاخاص اوځانګړې قواوې دي چې دکابل اداري دملي امنیت په سرپرستی کې تجهیزاو تمویلیږي.

نومورې وایي: دافغانستان په ختیځ ننګرهار کې چې داعش څومره ژر جړي وزغلولي که یې امریکا دمخ دب کیدو تګلاره درلودی دهوایی عملیاتو او درون بریدونو په مت یې تردیره بریده داکار کولای شوای، دلیکوال په خبره امریکا او دکابل ملي امنیت اداره په کده غواړي چې دداعش او هم داریکیانو په خطر اوګواښ کې خلک تر تهدید لاندي وساتي اوطالبانو ته سرخوړی جوړ کړي.

په ریښتیاهم همداسې ده، داریکیانو منحوسه پروژه صرف ددې لپاره امریکایانو رامنځته او تطبیق کړه ، چې دهغو متدینو افغانانو عزت او ابرو پایماله کړي ، چې له دین او ملي ارزښتونو سره وفاداري او محبت لري او دغلامی ځنځیر خپلې غاړې ته نه اچوي .

خو اریکیانو چې دخپلو بادارانو او مزدور رژیم د ملي امنیت په شوونه هر جنایت او جرم ته لاس اوږد کړ او هردول ظلم او

ووحشت يې وکاراوه ، په وراندې يې مومن ولس تيته خبره ورته ونکړه ، له مجاهدينو سره اوږه په اوږه ودريدل ، ددې ترخنګ هغوخلکو چې له مجاهدينو يې يوځه ځان ليري ساته، ولې داريکيانوپه خلاف له مجاهدينو او اسلامي امارت سره کلکي اوتينګي مرستي ته راودانګل.

هماغه وو چې مجاهدينو دولس په مستقيمه همکاری نه داچې سيمې له دغه ناولي کروندې څخه صفا اوتصفيه وکړځولي، داريکيانو زياتره قومندانان له خپلو افرادو سره په هماغه سيمو کې ووژل شول او دير ليږ يې کابل ته په تيښته بريالي شول.

دالله تعالی نصرت او څرکنده مرسته وه څنګه چې مجاهدينو په هرځای کې داريکيانو جړې وويستې ، کله يې چې دداعش او اختطاف کړو لورته هم پام اولاس يې پرې اوچت کړ په ديرکم وخت او لږو زيانونو يې دننګرهار له يوځو سرحدي سيمو پرته په ټول افغانستان کې دغه شريره او اسلام دښمنه پروژه هم دري وري اوپه نطفه کې خنثی وګرځوله. چې په زابل ، فراه، هلمند، شيندند اونورو برخو کې يې پيښې او جريانونه هرچاته معلوم دي.

نواوس مونږ دننګرهار مزدور والي ته وايو چې نه تيرو اريکيانو ستاسي کوم درد دوا کړ ، نه داعشيانو کومه بری اونيکنامي درته راوړه اونه به دنوو اريکيانو اوسيمه ييزو پوليسو په تجهيز او تمويل دمجاهدينو له لرزونکو بريدونو څخه په امان او نجات کې پاتي شی.

نو بيا کوم هغه ضرورت اوارتيا ده چې يوځل بيا په ځپل شوو دارمارانو سرمايه ګوزاري کوي او دکومي لاسته راوړني تمه ورنه لری ؟

هو ، که هغه دچا خبره ، په ژوند يې نور تنګ شوي ياست او غواړی چې ځان تړې خلاص کړی هغه بيابيل فکر او سوچ دی .

نوشته: عبدالقادر ابراهیم
ترجمه: عبدالخالق احسان

صحابی که فرشتگان غسلش دادند!

نام ونسب:

نام او حنظله فرزند ابوعامر راهب انصاري اوسي بوده، پدرش عمرو بن صيفي يا عبد عمرو بن صيفي از قبيله بني عمرو بن عوف و ملقب به ابوعامر راهب بود.

مسلمان شدن:

وقتی که پيامبر صلي الله عليه وسلم بمدينه آمدند، حضرت حنظله رضي الله عنه بدين اسلام مشرف گرديد، در حالي که پدرش دشمني خود را با پيغمبر و نفرت از دين اسلام اعلان نموده و مناظره ی بين پدر حنظله و رسول معظم اسلام صلی الله عليه و سلم به وقوع پيوست.

مناظره بين رسول خدا صلي الله عليه وسلم و ابو عامر:

پدر حنظله ابوعامر راهب بود که از ظهور رسول خدا صلي الله عليه وسلم سؤال مي نمود و از علمای يهود اوصاف پيامبر را جويا ميشد و لباس راهبانه مي پوشيد، وقتي رسول صلي الله عليه وسلم به پيغمبري مبعوث شد، ابو عامر حسادت کرده و عداوت خود را آشکار نموده و براي جنگ عليه پيامبر صلي الله عليه وسلم با قريش تعهد نمود. در جنگ احد گودال هاي حفر نمود تا مسلمانان در آنها بيافتند ورسول معظم اسلام به يکي افتاد.او کسي- بود که مسجد ضرار را در پهلوي مسجد قباء بناء کرد تا عليه اسلام و مسلمين را يزني کنند .

آغاز مناظره: وقتی رهبر بشريت به مدينه منوره تشريف آوردند، ابوعامر گفت: اين چه ديني است که آورده اي ؟ رسول الله فرمود: دين ابراهيم حنيف را آوردم، ابو عامر گفت: من هم بآن دينم، پيامبر صلي الله عليه وسلم فرمود: تو پيرو آن دين نيستي، ابوعامر گفت: اما تو در دين حنيفي (مايل از باطل بسوي حق) چيزهاي که از آن نيست داخل کرده اي، رسول خدا فرمود: من اينکار را نکردم؛ بلکه اين آيئن صاف وخالص را آورده ام، ابوعامر گفت: خداوند دروغگوي را غريب، طرد شده وتک وتنها بميراند، رسول خدا صلي الله عليه وسلم فرمود: آمين، در اخير ابوعامر گفت: هر گروهي که عليه تو بجنگد من هم با همکاري شان مي جنگم. درين موقف وبعد از اين مناظره، رسول گرامي

صلي الله عليه وسلم وي را ابوعامر فاسق نامگذاري كرد.

ابوعامر همين طور به كفر و دشمني خود به نبي اكرم صلي الله عليه وسلم باقي ماند تا روز غزوه حنين كه منجر به شكست هوازن در مقابل مسلمانان گرديد، درين هنگام ابوعامر از زندگي نا اميد شده و به طرف شام گريخت. قبل از رفتن به طرف شام تمام ياران خود را كه در كفر ونفاق همانند او بودند گرد آورد و براي شان گفت: هر چه از نيرو ومهمات آمده گي گرفته ميتوانيد بگيريد و برايم مسجدی بنا كنيد، من به طرف قيصر پادشاه شام ميروم تا لشكر بزرگي از روم جمع آوري نموده و محمد و يارانش را از مدينه بيرون كنم.

بناي مسجد ضرار:

ابوعامر به طرف شام رهسپار شد و يارانش به تنفيذ امر او آغازيدند و مسجد ضرار را به پهلوي مسجد قباء بناء نمودند و سپس نزد رسول خدا صلي الله عليه وسلم رفته گفتند: اي رسول الله ما مسجدي را براي مريضان و مستمندان و شب هاي باراني بنا كرده ايم و دوست داريم كه اينجا بيائيد ودر آن نماز خوانده و براي ما دعاي بركت كنيد.

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمود: من در حالت سفر هستم وقتي برگشتم انشاءالله آنجا مي آيم و نماز مي خوانم ، وقتی پيامبر گرامي از سفر مراجعت نمودند كه مراد از سفر غزوه تبوك ميباشد، منافقين نزد ايشان آمدند وخواستار شدند كه پيامبر صلي الله عليه وسلم به مسجد شان بيايد، درين حال جبرئيل عليه اسلام آمد واز حقيقت مسجد ضرار، واز قصد آنان و هدف نهائي بناي آن خبر داد و آيات ذيل نازل گرديد: {وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِنْ قَبْلُ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَى وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (١٠٧) لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ (١٠٨) أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى تَقْوَى مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَمْ مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (١٠٩) لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (١١٠)} [التوبة: ١٠٧ – ١١٠]

ترجمه آيات: آنانيكه مسجدي براي زيان رسانيدن وبه جهت كفر وبراي تفرقه افگندن ميان مسلمانان وكمين گاه ساختن براي آنانيكه با خدا و رسولش پيش ازين جنگ كرده اند، ساخته اند و البته سوگند مي خورند كه جز نيكي چيزي را نخواسته اند وخدا گواهي ميدهد كه ايشان دروغگو يانند، هر گز در آنجا مايست، به تحقيق مسجدي كه برنيت تقوي از روز اول بنياد نهاده شده است بهتر است كه در آن بايستي.

آنجا (مسجد قباء) مرداني اند كه دوست دارند پاك شوند وخدا پاك شونده گان را دوست ميدارد.

آيا كسيكه عمارت خود را برترس از خدا وخوشنودي او بنياد نهاده بهتر است يا آنكه عمارت خود را بر كناره زمين رود خوردهء در حال

افتادن بنا کرده است پس با صاحب خود در آتش دوزخ افتاد وخدا گروه ستمگاران را راهیاب نمیکند. همیشه عمارت ایشان که بنا کرده اند سبب شك در دلهاي ایشان میباشد مگر آنکه دلهاي ایشان پاره پاره شود وخدا داناي درست کار است.

ویران کردن مسجد ضرار:

بعد از اینکه پیغمبر اکرم صلي الله علیه وسلم از شنیدن وحي فارغ گردید، شتابان بلند شده و اصحاب را جمع نموده و چهار نفر را انتخاب کرد که آنان مالك بن دخشم، معن بن عدي، عامر بن سکن و وحشي بودند.

براي آنها گفت: به طرف این مسجد که اهلش ستمگاراند بروید و آنرا خراب کرده و بسوزانید، آنان در حال رفته و وارد مسجد ضرار شدند که منافقین داخل آن بودند در آن حال مسجد را منهدم نموده و سوختاندند، اهالي آن مسجد پراکنده شدند وسپس رسول معظم اسلام امر نمود که جاي آنرا زبال دان قرار دهید که نعش ها وآشغال ها را در آن بیندازند .

مرگ ابوعامر فاسق:

اما ابوعامر فاسق، طرد شده و تنها و غریب به شام مرد؛ چنانچه خودش چنین علیه خود دعا کرده بود، واین سزاي ستمگاران است.

موقف حنظله در باره پدرش:

بعد از اینکه دانستیم کفر ابوعامر فاسق را خداوند در قرآن کریم بیان داشته و او وقومش را به عذاب درد آوري وعید داده است مي بینیم که فرزندش کاملاً بر عکس اوست.

به تحقیق که ایمان قوي و عقیده ثابت و فطرت پاکي داشت، حنظله مبارك عملکرد، کفر و دشمني پدر خود را نسبت به رسول خدا مشاهده کرده و از مذاکره او علیه رهبر بشریت اطلاع یافت؛ لذا از رسول الله اذن کشتن پدر خود را خواستار شد.

نبي اکرم صلي الله علیه وسلم وي را نهي نموده وبه معامله نیکو توصیه اش کرد. در واقع حنظله به خاطریی قصد کشتن پدرش را نمود تا امر خداوند

را تنفیذ نماید که میفرماید:

]لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ] [المجادلة: ٢٢] نخواهي یافت قومي را که بخدا وروز آخرت ایمان دارند باین صفت که دوستي کنند با کسیکه با خدا ورسول او خلاف کرده است واگر چه آن جماعت پدران یا پسران یا برادران ویا خویشاوندان ایشان باشند آن مؤمنان که با کافران دوستي ندارند خدا در دل هاي شان ایمان را نوشته است.

حنظله این تصمیم را گرفت تا قرابتي که او را از الله دور میکند قطع نماید وبر عاطفه وآن قرابت فایق آید وخود را به الله نزدیك کند تا صداقت ایمان وعلو نفس و پاکي دل او نمایان شود. (والله

يختص برحمته من يشاء والله ذوالفضل العظيم) خداوند كسي را كه بخواهد به رحمت خود اختصاص ميدهد والله داراي فضل بزرگي است.

دلاوري حضرت حنظله رضي الله عنه:

او رضي الله عنه در غزوه احد موقف برازنده و قهرماني خارق العاده داشت از تصور بيرون است، صبح شب اول عروسي اش صداي منادي جهاد را شنيد در حال لباس هاي خود را پوشيد و شمشير را برداشت و اسپ تيز رفتارش را سوارشد و همراي رسول خدا صلي الله عليه وسلم براه افتاد ورسول معظم اسلام يارانش را بسيج نموده وفضايل جهاد را بيان مي نمود و به پايداري در مقابل دشمن ستمگر ترغيب ميكرد، لذا حنظله به صفوف جنگاوران ملحق شد وفراموش كرد كه جنب است وبه غسل ضرورت دارد.

بعضي گفته اند كه او در حال غسل نمودن بود كه نداي جهاد را شنيد ونتوانست غسلش را تكميل كند پس لباس هاي خود را پوشيد وبه طرف پيكار حركت نمود.

در آن شب زن حنظله بخواب ديده بود كه دروازه آسمان باز شده وحنظله در آن داخل گرديده و سپس دروازه بسته شد.

آري ! دروازه هاي آسمان جز براي نفوس پاك وپاكيزه باز نميشود اما دروازه هاي آسمان براي نفوس خبيث وفاسق ونافرمان بسته ميشود واز باز شدن ابا دارد بدليل اينكه خداوند ميفرمايد: {إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ} [الأعراف: ٤٠[

محققاً كسانيكه آيات ما را تكذيب كردند واز قبول آن سركشي نمودند هر گز براي ايشان دروازه هاي آسمان گشاده نميشود و به بهشت تا وقتيكه شتر در سوراخ سوزن داخل شود وارد شده نميتوانند گناهكاران را چنين جزا ميدهيم.

اين آيه شتر را خاص نمود بخاطر اينكه شتر بزرگ جثه ترين حيوان نزد عرب آنروز بود و جسم شتر از بزرگترين اجسام و سوراخ سوزن از تنگترين سوراخ هاست واين تعليق به محال است وتعليق بمحال محال ميباشد پس معني اين ميشود كه دخول كفار به بهشت محال است.

قهرماني وشهادت طلبي:

وقتيكه به ميدان احد آمد و به نبرد آغازيد و دو لشكر باهم روبرو شدند كه يكي لشكر نور و ايمان و ديگري لشكر كفر وتاريكي بود، حضرت حنظله رضي الله عنه در ميدان نبرد حمله ور ميشد

و اسـپ خـود را جـولان ميـداد و در جسـتجوي ابوسفيان سر كرده لشكر مشركين بود همينكـه او را ديد جلويش را گرفت وقصد او را به تمام دلاوري وجانبازي كرد ونزديك بود كـه ابوسـفيان را بقتـل برساند كه شمشير ابوسفيان به حنظله رسيد و او را به شهادت رسانيد. ابوسفيان در حالـت مسرت وخوشحالي گفت: حنظله در مقابل حنظله، هـدف او اين بـود كـه ايـن حنظلـه را در مقابـل حنظلـه پسرش كه در غزوه بدر كشـته شـده بـود كشـته است.

آنگاه كه خبر شـهادت حضرت حنظلـه بـه رسول خدا صلي الله عليه وسلم رسيد فرمـود: مـن فرشتگان را ديدم كه حنظله بن ابي عامر را در بين زمين وآسمان بآب زلال در ظـروف نقـره ئي غسـل ميدهند، صحابه در جستجوي او رفتند ديدند كه آب از سرش قطره قطره مي چكد، نبي اكرم صـلي الله عليه وسلم بعضي از اصحاب را نزد همسر حنظلـه فرستاد در مورد حنظله سوال نمودند، او گفت: در حالي بيرون شد كه جنب بود و يك سمت بدن خـود را شسته بود و بس، همينكه ندای جهـاد را شـنيد بطرف نبرد بيرون گرديد.

بخاطر اينكه ملائكه وي را غسـل دادنـد بـه غسيل ملائكه مسمي گرديد چه زيباست اين نفـس مؤمن!

شاه داماد از همسرش در شب اول عـروسي جدا ميشود و شـتابان بـه طـرف لقـاي پروردگـار حركت ميكند و همين كـه نـداء جهـاد را ميشـنود غسل خود را تمام نميكند، پس جاي تعجب نيسـت كه فرشتگان وي را بين آسمان و زمين غسل دهند. اين بزرگداشت در مقابل آن شهامت است خداوند در حديث قدسي ميفرمايد: كسيكه به سويم يك بلست نزديك شود من به سوي او يك متر نزديـك ميشـوم وكسيكه بطرفم قـدم زده آيـد بطـرف او دوان دوان ميروم.

سرانجام فضيلت وجايگاه:

او رضي الله عنـه در قلـوب و ضـمير يـاران رسول خدا صلي الله عليه وسلم جاي داشت كه هـر گز فراموشش نمي كردند و زياد او را ياد نمـوده و بفضل ومناقب او ميباليدند. روايت شده كه قبيلـه اوس او را يـاد كـرده و بيـاد وي افتخـار نمودنـد وگفتند: غسيل ملائكه حنظله بن ابي عامر، عاصم بن ثابت بن قيس بن ابي اقلح كه زنبـور هـا از وي حمايت نمودند وخزيمه بـن ثابـت كـه شـهادت او بجاي شهادت دو نفر قبول شد وسعد بن معاذ كـه بمرگش عرش رحمن لرزيد از قبيله ما بودند.

وخزرجي ها گفتند كه در زمان رسـول خـدا صلي الله عليه وسلم چهار نفر از قبيله مـا قاريـان قرآن بودند: زيد بن ثابت، ابوزيد، معاذبن جبل وابي بن كعب رضي الله عنهم.

ابوعمر گفت: در آن زمان همه قـرآن را هـيچ يك از شما خزرجـي هـا نخوانـد بلكـه گروهـي از مهاجرين خواندند مثل: عبدالله بن مسـعود، سـالم مولي ابوحذيفه، عبدالله بن عمر، عبدالله بـن عمـرو بن العاص وغيرهم رضي الله عنهم.

خداوند از همه آنان خوشـنود بـاد ودرجنـت فردوس جاي شان دهد.

صحابه کرام، رضي الله عنهم غوره بیلګې؟

تاسې به تر اوسه په نړۍ کې د ډېرو سترو شخصیتونو نومونه اوریدلي وي، چې د ژوند په ډګر کې یې څه خدمات ترسره کړي، لکه د اقتصاد په برخه کې الفرډ مارشل او اډیم سمیت دي. همدارنګه نیسلن منډیلا لومړی شخص وو چې د نژاد پرستی پرضد یې غږ پورته ,البرټ انسټاین هغه ووچې د جاذبې تیورۍ یې مخ ته کړه ، همدارنګه د مایکروسافټ کمپنی مشر بیل ګیټس او ډاروین هم لدې خلکو څخه دي.

داسې نور اشخاص هم شته چې نړۍ ته یې په یوه مشخصه برخه کې څه وړاندې کړي، دوی چې کوم نوښتونه کړي هغه دخلکوپه نظر ښه ول اما ددوی نوښتونه د څو شیانو څخه خالي نه ول، ۱.فقط یو بخش کې نوښت، ۲. تر دنیا او مادیاتو محدودوالی، ۳ .وروسته یې د صحیح والي په هکله مشکلات او اختلافات او داسې نور...

